د ماشومانو لپاره کیسې
او بوختیا وې

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

ليکوال : عبد الغفور "ليوال"

د ماشومانو لپاره کيسي او بوختياوې

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

PROPERTY OF ACKU 10684

PROPERTY ARIC Established 1989

عبدالغفور «ليوال»

۱۳۸۱هش/۲۰۰۲م

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : د ماشومانو لپاره کيسې او بوختياوې
ليکوال : عبدالغفور «ليوال»
د پښتې انځور : استاد عبدالحفيظ «آشنا»
د هنر او فرهنگ د سالون مسوول، پېښور، ۱۳۸۱
خپرونکی : د اريک د گرځنده کتابتونونو اداره
پرله پسې نومره : ۱۱۰
لومړی چاپ : ۱۳۸۱ هـ ش، د خپرونکي له خوا، پېښور
د مخونو شمېر : ۹٤
کچه : ۱۳,۵ × ۲۱ سانتي متره
د خپرونکي پته : دويم کور، رحمان بابا روډ،
پوسټ بکس: ۱۰۸٤، يونيورسټي ټاون - پېښور
ټيلفون: ۸۵۰۸۳۹ - ۵۷۰٤۳۹۲ - ۵۷۰۲۹٦۲
۸٤۱۲۹٦ - ۵۷۰۲۵۳۱
فکس: ۰۹۱-۸٤۰٤۷۱
الکټرونيکي پوسټ: aric@brain.net.pk
کمپوز او طبع : احمد پرنټنگ پرېس، ټيليفون ۲۱۵۵٤۰

د ويش او پلورنې ځای: د اکبر دفتر (د افغانانو له پاره د مرستو د انسجام اداره)

د کتاب له مطالبو څخه اقتباس د مأخذ په ښودلو سره جايز دی.

بسم الله الرحمن الرحیم

PROF... AIRC

د اکبر د اطلاعاتی او نشراتي منابعو مرکز (اریک) له څلورو کالو راهیسې د افغانستان ولایتونو ته د ګرځنده کتابتونونو پروګرام تر لاس لاندې نیولي دي. ګرځنده کتابتونونه چې د فلزي صندوقونو په بڼه جوړ شوي دي، په یو خاص ځای کې اېښودل کېږي. د سیمې خلک ورڅخه امانت کتابونه وړي، لولي یې او خپلو شاوخوا خلکو ته یې هم اوروي. کله چې په سیمه کې د کتابتون ټول کتابونه ولوستل شول، کتابتون بلې سیمې ته لیږدول کېږي او یا پرې یو شمیر نور نوي کتابونه ورزیات او هماغه ځای کې پاتې کېږي.

مونږ دا هڅه کړې ده چې د ګرځنده کتابتونونو له پاره داسې کتابونه راټول کړو چې دلیکنې ژبه یې ساده او د خلکو د اړتیاوړ مطالب ولري، تر څو چې په ورځني ژوند کې له هغوی سره په دیني، ټولنیزو، اقتصادي، ښوونیزو، روزنیزو، روغتیایي، تاریخي، فني، مسلکي او... مسایلو کې مرسته وکړي.

موږ د ګرځنده کتابتونو تر څنګ دا سروې هم ترسره کوو چې خلک څه ډول آثارو او موادو ته اړتیا لري او د کومو موضوعاتو او مطالبو د مطالعې هیله من دي. موږ لومړی هڅه کوو چې غوښتل شوي کتابونه له بیلا بیلو منابعو (کتاب پلورنځیو او خپرونیزو مرکزونو) څخه برابر او راونیسو. په نوموړو مراجعو کې د مطالبو او موادو د نشتوالي په صورت کې اریک هڅه کوي چې دا اړتیاوړ آثارو په تألیف، ترجمه او چاپ سره دغه تشه ډکه کړي.

ددغه موخې او هدف د تحقق او په عمل کې پلي کولو په منظور درې کاله

لومړی

د مخه د لوستونکو د علاقې وړ کتابونو د چاپ او خپراوي کار پیل شو او له هغه وخت راهیسې تراوسه پورې د اریک ګرځنده کتابتونونو ادارې د محترمو همکارو مؤسسو په مرسته په دغه برخه کې پیاوړي ګامونه اخیستي او ګټور فعالیتونه یې ترسره کړي دي.

د ښه او سیستماتیک کار له پاره د اریک د ادارې استازیو او پوشمیر څیړونکو او لیکوالو یو ګډ هیأت وټاکل شو چې د مطلوبو کتابونو د پلان کولو، آماده کولو او چاپ کولو پړاوونه چې د تکړه او مسلکې لیکوالو له خوا تألیف کیږي، په ګډه پر مخ بوځي.

دغه هیأت د افغانانو د صمیمي همکارۍ میرمن نانسي هچ دوپري، سیدمحی الدین هاشمي، فیض محمد نایاب عطایی، محمد شکیب افضلي او محمد رفیع فاروق څخه تشکیل شوی دی.

مونږ له خپلو ټولو درنولو ستونکو څخه چې د هیواد په بیلا بیلو ښارونو او کلیوالو سیمو کې زموږ له کتابتونونو څخه ګټه اخلي، هیله لرو چې خپلې اړتیاوې، غوښتنې او پوښتنې راولیږي او د هیواد له لیکوالو او پوهانو څخه غواړو چې چه له موږ سره په دې لاره کې مرستندوی شي، چې وکړای شو خپلو خلکو ته لا ښه او ګټور کتابونه وړاندې کړو.

په درنښت

د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره

فهرست

سرلیک	مخ
سریزه	۱-۲
لومړی برخه: کیسه څه ته وایي او څنګه رامنځ ته کیږي؟ [له تاریخي او فرهنګي پلوه د کیسو اهمیت، د هیواد د پخوانیو او اوسنیو کیسو ځو بیلګې او د هغو لنډه جاج اخیستنه، (د بوډۍ تال، زمري او سویه، نیکي او بنیګنه، سحرناکه کلي)]	۳-۳۵
دوهمه برخه: د ماشومانو سندرې (ترانې) [د ماشومانو د سندرو ویش، فولکلوري سندرې]	۳۶-۴۶
دریمه برخه: د ماشومانو لوبې [رسۍ کشول، چندرۍ، غومبۍ غومبۍ، خوسی، نانځکی او کورکانی، جز لوبه (لشپ اچول)، پنجاق]	۴۷-۶۱
څلورمه برخه: اړونه (چیستان)، متلونه، توکې او د ماشومانو په روزنه کې د هغو ونډه [اړونه (چیستانونه)، متلونه، توکې ټکالې، د ماشومانو بوختیاوې]	۶۲-۷۷
پنځمه برخه: د ماشومانو بوختیاوې (سرګرمۍ) [ځیني ساده علمي تجربې، هوا وزن لري، بریښنا څنګه ترلاسه کیږي، د شیزونو (اجسامو) وزن په اوبو کې کمیږي، نتیجه او وراندیزونه]	۷۸-۸۶
د اړونو (چیستانونو) ځوابونه	۸۷
سرچیني او اخځونه	۸۸

PROPERTY OF ACKU 10684

سریزه

ماشومان د ټولنې راتلونکي جوړونکي دي، د همدې لپاره د هرې ټولنې چارواکې او غړي چې د خپلو هیوادونو د نیکمرغه سبا په هکله فکر کوي او هیله یې دا وي، چې هیواد او ټولنه یې له نن څخه سبا ته ښه او آباد وي ،نو د ماشومانو روزنې او پالنې ته ډیره پاملرنه کوي، په داسې ټولنو کې د ښوونځي، وړکتون، او مدرسو تر څنگ ماشومانو ته د لوبو او تفریح لپاره هم آسانتیاوې برابرېږي. په کورنۍ کې چې د ماشوم لومړنۍ روزنځای دی هم باید د ماشوم سالمې ودې ته پام وساتل شي، یعنې د لوست، لوبو او تفریح لپاره آسانتیاولري.

ددې اړتیا له مخې ، چې د ماشومانو لپاره بوختیاوې، لوبې او د تفریح وسایل څنگه پیژندلای شو او له بلې خوا ددې لپاره چې معلومه کړو کیسې، ترانې، لوبې او نورې بوختیاوې د ماشومانو په روزنه او سالمه وده کې څومره ونډه لري، دغه تر لاس لاندې کتاب خپروو.

په دې کتابگوټي کې به د ماشومانو لپاره د کیسو، افسانو پر پیژندلو بر سیره د ماشوم په وده کې د هغو په اهمیت خبرې وشي او بیا به د کوچنیانو لپاره د کیسو پخوانۍ او اوسنۍ بیلگې هم وړاندې شي، چې عملاً یې د جوړښت او ژبې څرنگوالي و پیژندل شي.

په دوهمه برخه کې د ماشومانو په ترانو او شعرونو بحث کیږي چې د

ماشومانو په ادبیاتو کې ځانګړی ځای لري او ددی تر څنګ چې د ښوونې او روزنې لپاره ارزښت لري د ماشومانو د لوبو یوه برخه هم وي. دا برخه هم د ماشومانو لپاره یو شمیر ترانې او شعرونه له ځانه سره لري.

په دریمه برخه کې د ماشومانو په لوبو باندې خبرې شوي او د هغوی په جسمي وده کې یې ونډه څیړل شوې ده چې د څو لوبو په پیژندلو سره پای ته رسیږي.

نورې برخې د ماشومانو لپاره دځینو فولکلوري ارزښتونو په هکله دي چې په هغو کې اړونه چیستانونه، متلونه، ټوکې او نور شاملې دي.

په وروستی برخه کې به د ماشومانو لپاره د پوښتنو، جدولونو او علمي تجربو څوبیلګې معرفي شي او دا به وڅیړل شي چې د رسمي ښوونې او روزنی تر څنګ داډول بو ختیاوې او لوبې د ماشوم په روز نیز بهیر کې څومره اغیزه لري.

دا کتاب ګوتې په دې هیله خپریږي، چې وشي کړای د افغاني ماشومانو لپاره د سرګرمیو، کیسو او ترانو په پیژندلو او بیلګه یې څیړنه کې مرسته وکړي.

ښایي دا یادونه هیره نه شي، چې د اریک د ګرځنده کتابتونو نو اداره د ستاینې او منننې وړ ده چې د داسې آثار و په خپراوي او تدوین یې لاس پورې کړی دی. داهڅه د افغانستان د ماشومانو په سمه روزنه کې ځانګړی ځای لري.

او دا کتابونه راتلونکو نسلونو ته هم د ګټې اخیستنې وړتیا لري.

د افغاني ماشوما نو پر شونډو د تلپاتې موسکالیدو په هیله

عبدالغفور لیوال

لومړۍ برخه:

کیسه څه ته وایي او څنګه رامنځ ته کیږي؟

کیسې د تاریخ په اوږدو کې د خلکو د غوښتنو، هیلو، تجربو، خیالونو او فکرونو هغه ویل شوې یا لیکل شوې څرګندونې دي چې نورو نسلونو ته په زړه پورې او له پندو خوند ځخه ډکې وي.

په افغانستان کې کیسې ته (افسانه)، (نکل)، (قیصه) (داستان) او (حکایت) هم وایي. او ګڼ خلک معمولاً د ژمي له خوا په کلیو او ښارونو کې، کله چې د تنرونو یا صندلۍ ګانو تر څنګه راټول شي، نو د ژمي اوږدې شپې په خوږو کیسو لنډې وي.

انا ګانې، او نیکونه یا پلارو مور خپلو ماشومانو ته ښکلې کیسې اوروي او ماشومان د کیسو په اوریدو د کیسې په هکله فکر کوي، ځان د کیسې د اتل پر ځای ګڼي او ورو ورو د خوب دنیا ته ځي.

کیسې زموږ په هیواد کې له ډیر پخوا ځخه دود دي چې په لیکلو او شفاهي ادبیاتو کې ځانګړی ځای لري.

هره ټولنه ځانته بیلې بیلې کیسې لري چې د همغې ټولنې له دود و دستور، ورځني ژوند او تاریخي اشخاصو سره مناسبت ولري. خویو شمیر کیسې داسې هم شته چې د نړۍ په ګڼو و لسونو کې یو ډول دود دي.

کله چې په یوه ټولنه کې خلک د ښه ژوندون په تمه ورځې او شپې تیر وي

او غواړي له شر او بدیو څخه وژغورل شي، د ظلم او ناروا لاسونه ورڅخه لنډ شي، په سوله، مینه او خوشالۍ کې ژوند وکړي، نو د همدې لپاره سوچ او فکر کوي. په خپلو ذهنونو کې داسې اتلان رامنځ ته کوي چې کولای شي له شر او بدي سره جګړه وکړي، ظلم او ناروا له منځه یوسي. وروسته بیا همدغه اتلان او د هغوی ښه کارونه په افسانو کې رانغاړي او کیسې ورڅخه جوړوي، دا کیسې بیا نسل په نسل او سینه په سینه رالیږدېږي او کله کله ویونکو او راویانو له خوا لږ او ډېر بدلونونه هم په کې رامنځ ته کیږي.

د دې لپاره چې کیسې د اوریدونکو په تیره بیا ماشومانو لپاره په زړه پورې وي، او دوی وکولای شي ورڅخه خوند واخلي، نو د کیسو جوړونکي هڅه کوي په خپلو کیسو کې فوق العاده پېښې او حیرانونکي حوادث ځای کړي. مثلاً د کیسې اتلان ډېر زړور، ځواکمن او ښکلي وي، کله خو د جادوګرو، ښامارانو، دیوانو، پیریانو او ښاپیریو له خوا داسې کارونه تر سره کیږي چې اوریدونکی حیرانوي. په کیسو کې دیوان، ظالمان او بد خلک هم وي، چې هغه بیا د پېښو په بهیر کې د کیسو د اتلانو په لاس له منځه ځي.

کله کله په کیسو کې حیوانات (څلوربول)، مرغان او نور ژوي خبرې کوي او د انسانانو په څیر کولای شي وغږیږي او فکر وکړي، په ځینو نورو کیسو کې غرونه، ونې، سیندونه، ستوري، لمر او سپوږمۍ او ځینې نور څیزونه هم خبرې کوي چې دا د ماشومانو لپاره په زړه پورې وي.

دا چې ولې په کیسو کې داسې کیږي علت یې دا دی چې انسانان په عادي ورځني ژوند کې نه شي کولای فوق العاده او حیرانوونکي کارونه

وکړي ، ځکه خو د خیال او فکر په مرسته په کیسو او نکلونو کې د خپلو زړونو غوښتنې او هیلې د حیرانوونکو پیښو په رامنځ ته کولو کې انځوروي.

له تاریخي او فرهنګي پلوه د کیسو اهمیت:

کیسې ډیرې ګټې لري ، ماشومان د کیسو په اوریدو له خپل چاپیریال او نړۍ سره آشنا کیږي ، ښه او بد پیژني ، د فکرکولو ، تخیل او ذهني فعالیت ځواک یې ډیر یږي او کله کله خو تکړه ماشومان کولای شي په خپله هم کیسې جوړې کړي.

هغه ماشومان چې د کیسو له قهرمانانو سره مینه پیداکوي ، غواړي دوی هم د کیسو داتلانو په شان ، ښه ، هوښیار ، زړور او ځواکمن و اوسي ، له بدو او ناوړو کارونو څخه ځان وژغوري او نور هم سمې لارې ته راوبولي ، کیسې ماشومان له پخوانیوز مانو ، تاریخ او تولنپوهنې سره آشنا کوي.

کیسې د یوه ولس ادبیاتو ، فولکلور ، تاریخي اسناد و او پیژندنې په بډا یینه کې هم ډیره ونډه لري.

وایي چې یونانیان دخپل زاړه تاریخ یوه لویه برخه د هغو کیسو له مخې پیژني چې د « هومر » له خوا جوړې شوي دي. « ایلیاد » او « اودیسه » ددغه شاعر مشهورې کیسې دي.

په افغانستان کې هم د لرغوني تاریخ په پیژندنه کې د کیسو ونډه ډیره ده د « آدم خان او درخانۍ » ، « یوسف خان او شیربانو » « رستم او سهراب » او نورې داسې کیسې کولای شي ددغه هیواد د تاریخي او فرهنګي څیرې په پیژندلو کې مرسته وکړي.

د ماشومانو لپاره کیسې په لاندې ډولونو ویشل کیږي:

کیسې او په تیره بیا د ماشومانو لپاره افسانوي کیسې دوه ډوله ویش لري د شکل له مخې ویش او د محتوا له مخې ویش:

د شکل له مخې معمولاً کیسې په دوه ډوله دي.

١ - منظومې کیسې

٢ - منثورې کیسې.

١ - منظومې کیسې: هغو کیسو ته وايي چې د تاکلي وزن تر څنګ قافیه او ردیف هم ولري. معمولاً داسې کیسې په پخوا زمانو کې د شاعرانو له خوا ویل کیدې او ددې لپاره چې حافظې ته یې سپارل آسانه وي، په نظم به یې ویلې.

همدا اوس هم په کلیو الوسېموکې ولسي سندرغاړو ته اوږدې کیسې یادې دي چې په وزن سره یې د موسیقي په مرسته په مجالسو کې وايي، په دې کیسو کې هر ډول په تیره بیا مذهبي حکایتونه ډېر ویل کیږي

٢ - منثورې کیسې: داعادي کیسې دي چې نه وزن ولري او نه قافیه بلکې دعادي نثر یا متن په توګه ویل کیږي او لیکل کیږي.

د محتوا له نظره د کیسو ویش:

دا چې په کیسو کې څه هدف او محتوا نغښتل شوې، له پخوا زمانو څخه کیسې په بیلا بیلو ډولو ویشل شوي دي.

١ - د ژویو (حیواناتو) کیسې: دا هغه کیسې دي چې اتلان یې اکثراً حیوانات مرغان او حشرات وي. دا ډول کیسې له ډیرې پخوازماني څخه د انسانانو په منځ کې دود دي. په ختیځ کې د هندي فیلسوف په قلم لیکل

شوې افسانې (کرنیکا او دمنکا) خورا مشهورې دي چې بیا وروسته د پیړیو په اوږدو کې څو څو ځلې په فارسي ژبه د مختلفو شاعرانو او لیکوالانو په همت راژباړل شوي چې مثالونه يې (کلیله او دمنه) انوار سهیلي او نور داسې کتابونه دي. دا کیسې په ګڼو ژبو ترجمه شوي چې د ګڼو کیسو پرسوناژونه (اتلان) حیوانات دي، د دې کیسو يوه برخه په پښتو هم ترجمه شوې ده. له دې پرته د عامو خلکو تر منځ هم په زرګونو کیسې شته چې د حیواناتو په هکله ویل شوي، په داسې کیسو کې اکثراً زمری هم د حیواناتو مشر وي، ګیدړه د هوښیارۍ او چالاکۍ له امله مشهوره وي، لیوه د حرص او بې عقلۍ نښه وي، میږی د زیار ایستونکي او هوښیار کوچني خزیدونکي په توګه شهرت لري، په ګڼو داسې کیسو کې حیوانات خبرې کولای شي.

۲- د کوډګرو او جادوګرانو کیسې: دا د هغو افسانوي کوډګرو کیسې دي چې هر څه يې زړه وغواړي هغه کولای شي. په دې کیسو کې کوډې هم په ښو او هم په بدو کارونو کې ونډه لري، جادوګران او کوډې ځکه په افسانواو کیسو کې ځای لري چې انسانان د ځینو لاس ته راوړنو لپاره کله چې ووینې په رښتیا يې وس نه رسیږي، نو د خیال او فکر په مرسته کوډو ته پناه وړي او خپلې کیسې د فوق العاده حرکاتو په مرسته بشپړ وي.

۳- د مینې او عشق کیسې: عشقي کیسې هغه کیسې دي چې په هغو کې د زلمیو او پیغلو ترمنځ د پاکې او سپیڅلې مینې په هکله پیښې انځوریږي. په داسې کیسو کې معمولاً د اتلانو یو بل ته رسیدل له ستونزو سره مخامخ وي او پیښې داسې رامنځ ته کیږي چې د دوه مینو په لاره کې خنډونه رامنځ ته شي.

داسې کیسې له ډېر پخوا څخه راپاتې دي او ځینې یې په ټولنه کې مشهورې شوي. لکه آدم خان او درخانۍ، لیلی او مجنون، شیرین اوفرهاد او نورې.

٤- ټولنیزې او اخلاقي کیسې: دا هغه کیسې دي چې هدف ورڅخه پنداو نصیحت وي دا ډول کیسې څرګندوي چې، نیکي، رښتیا، صداقت او زړورتیا تل کامیابه وي او دروغ، بدي، چل او دوکه ماته خوري. په داسې کیسو کې هڅه کیږي چې ماشومانو ته د ښو لارو چارو غوره کول او په ټولنه کې د سالم فرد په توګه د ژوند کولو لارې چارې وښودل شي.

٥- خندوونکې کیسې: دا هغه کیسې دي چې اوریدونکي خندوي دا کیسې له ټوکو سره دا توپیرلري چې هم اوږدې وي او هم ټاکلې جوړښت لري. چې له پند او نصحیت سره مل وي. خندونکې کیسې د ماشومانو د خوشالۍ او له ژړا څخه د هغوی د پام اړولو لپاره خورا په زړه پورې وسیلې ګڼل کیږي.

اوس به یو شمیر پخوانۍ او نوې داسې کیسې د بیلګې په توګه راوړو چې د کیسو د پیژندنې په برخه کې بېلګه یې مرسته وکړي:

د هیواد د پخوانیوا و اوسنیو کیسو څو بیلګې

او دهغو لنډه جاج اخیسته

له پټې خزانې څخه:

قصه د سوی او د اوښ

د عبداللطیف اڅکزي کیسه

وو ، نه‌وو په پخوانیو زمانو کې یو سوی او یو اوښ وو چې دواړه سره دوستان شول.

د دغه اوښ او سوی آشنایي دومره خوږه او توده شوه چې له یوه او بل پرته به یې ژوند نه شو تیر ولای او په دې توګه به اوښ او سوی دواړه سره یو ځای اوسیدل او ژوند به یې په خوږو کیسو او خوشحالۍ سره یو ځای تیرواه.

عجبه خو داوه چې سوی د اوښ په کورکې اوسیده او تل به یې یو له بل سره کیسې کولې داسې چې بیګاه به یې کیسه پیل کړه نو ترسبا به یې کیسې کولې. دوی دواړو په خورا پام یو د بل قدر او عزت کاوه.

څو يوه ورځ سوی پريکړه وکړه چې اوښ خپل کورته را ميلمه کړي او يوه ښه خوندوره ميلمستيا ورته تياره کړي. همدا وو چې سوی خپل ټول عزيزان او خپلوان را ميلمانه کړل او ورته ويې ويل چې زما گران او مهربان آشنا يعنې اوښ زما ميلمه دی او تاسو هم بايد په دغې ميلمستيا کې گډون وکړی.

اوښ چې خبر شو، سوی ورته ميلمستيا کړې ده، ډېر خوشاله شو او راغی چې د سوي کره شپه تيره کړي، يو ځاي د هغه له خپلوانو سره ډوډۍ وخوري نو له خپله ځايه راوخوځيد راغی او راغی چې د سوي کورته را ورسيده خو گوري چې د سوي کور ډير وړوکي دی، دومره وړوکی چې دده يوه گونډه هم نه په کې ځايېږي. نو همداوو چې د سوی د کور په خوله کې يې گونډه ووهله او منتظر شو چې سوی به ورته خواړه راوړي. سوی ټول هغه واښه راوړل چې د اوښ لپاره يې تيار کړي و.

اوښ په خوراک پيل وکړ، خو ټول واښه يې ايله يوه مړۍ شول او نور وږی پاتې شو.

سويان ټول وشرميدل او د اوښ ملگری سوی يې ملامت کړ چې خدای (ج) دې خوار کړه چې ميلمستيا کولای نه شې، ولې له اوښ سره ملگرتوب کوې؟ اوښ گوره او ته ځان وگوره، ستا او د اوښ څه مناسبت و چې سره ملگرتوب موکاوه، چې پيلان ساتې پيلخانې به جوړوې او چې اوښان ساتې دروازې به لوړې ږدې، له خپل ټغر سره به پښې سمې غځوې او که همداسې به شر ميږېږې چې له ځان سره به قوم هم شرموې.

پايله (نتيجه): دا کيسه لکه څرنگه چې په خپله ليکوال يې هم ويلې

دي، ددې لپاره ویل شوې چې خلک ورڅخه پندواخلې ،وسې او اندازې سره سمه یارانه او دوستي وکړي.

تا سو وکتل چې سوي له اوښ سره دوستي کوله او کله یې چې میلمه کړ هم ورڅخه وړی پاتې شو او هم یې ورته د شپې تیرو لو ځای نه درلود ه هر څوک چې کوم کار ته لاس غځوي باید لومړی په دې ډاډه اوسي چې کولای یې شي.

دا د حیواناتو له ژبې څخه ویل شوې یوه منظومه کیسه وه چې موږ دلته په ساده نثر راواړوله.

د بوډۍ تال

په پخوانۍ زمانه کې زموږ د هیواد (افغانستان) په ختیځ کې لوی ښار پروت و. چې د پخوانۍ ګندهارا او پکتیکا سیمې یې دووخوا و ته پرتې وې، یو لوري ته یې پاریتي او بل لوري ته یې ګنداري قومونو ژوند کاوه. دا قومونه ډېر میړني، مېلمه پال او غښتلي وو. خو خدای (ج) خبر، چې ولې د دوی ترمنځ زړه د ښمني وه او په کلونو کلونو یې یو له بل سره جګړې کولې، وايي، چې یو کال جګړه ډېره شوه، د پاریتي قوم ډېر خلک مړه شول او په کنداري قوم کې د جګړې او وچکالۍ له امله وبا ګډه شوه. د دواړو قومونو خلک ډېر خپه او غمجن وو، ځکه په هغوي کې ورځ په ورځ بد مرغي ډېر یده، د پاریتي قوم په یو کلي کې یو بزګر او سیده. هغه یو زوی درلود چې (سنک) نومېده، سنک ډېر ښه ښکاري او نښه ویشتونکیَ و، هغه یوه وړه لیندۍ هم درلوده، سنک زړور او خورا هوښیار هلک و، کله چې هغه د خپلو خپلو انوژور خپګانَ او غم ولید، نو یوه ورځ یې له خپل سپین ږیري پلار نه پوښتنه وکړه چې:

- پلار جانه زموږ خلک ولې جګړه کوي؟

پلار یې ځواب ورکړ:

- نه پوهیږم زوي جانه، چې ولې جګړه کوي.

سنک بیا و پوښتل:

- نو په دې راز څوک پوهیږي؟

پلار یې وویل:

- ښایي زموږ لوی نیکه چې د کسي د غره په لوړه څوکه کې اوسیږي پرې وپوهیږي.

له همدې شیبې نه سنک د خپل ستر نیکه د پیدا کولو لپاره له خپل پلار نه اجازه واخیسته او مخ په (کسي غر) وخوځېد.

سنک به خپل منزله نه پریږدو او وبه گورو، چې د گنداریانو په یوه غریبه کورنۍ کې څه تیریدل.

هلته یوه وړه نجلکۍ وه، چې (پیکۍ) نومیده. پلار او موریې دواړه د وبا د ناروغۍ له امله مړه شوې وو. او دې له خپلې زړې انا سره ژوند کاوه.

پېکۍ تل په خپل مور او پلار پسې او ښکې تویولې او خپه به ناسته وه، یوه ورځ یې له خپلې انا څخه وپوښتل گرانی انا! د ابد مرغه ناروغې ولې زموږ کلي ته راغلې ده؟

انا یې په حیرانتیا ځواب ورکړ:

- پېکۍ جانې! زه په دې نه پوهېږم، ښایي زموږ ستر پلار چې د کسي په غره کې ژوند کوي پرې وپوهیږي.

پیکۍ له خپلې انا څخه وغوښتل، چې هغې ته اجازه ورکړي چې خپل دغه ستر نیکه ته ورشي او ددې راز پوښتنه ورڅخه وکړي.

انا یې ورته وویل!

- لور جانې که څه هم نه غواړم چې یوه شیبه له ما څخه لرې شې، خوزه

ستا ژړا او اوښکې نه شم لیدی، ورشه او خپل بابا پیدا کړه او د نیکمرغۍ لاره ورڅخه و پوښته.

پېکۍ د غره خواته وخوځیده په لاره کې یې یو هلک ولید او پوښتنه یې ترې وکړه:

- سلام، نوم دې څه شی دی او چېرې ځې؟

- هلک وویل:

- پر تا هم سلام، نوم مې (سنک) دی. غواړم کسي غره ته ولاړ شم او بابا وګورم، چې ترې وپوښتم ولې زموږ کلي ته د جګړې بلا راننوتلې ده، ته څوک یې او چېرې ځې؟

پیکۍ ورته وویل: زمانوم (پیکۍ) ده، د ګنداریانو د کلي یم، زه هم غواړم ستر بابا وګورم او ورڅخه پوښتنه وکړم چې دا بد مرغه وبا ولې زموږ کلي ته راغلې ده؟

سنک په غوسه شو او ویې ویل:

- ښه نو ته ګنداری یې به زموږ د دښمنانو له کورنۍ څخه؟ د هر ژر زماله مخې نه لرې شه! پیکۍ په خواره او پسته ژبه ورته وویل:

- ګوره سنک جانه، زما دښمنی نه خوښیږي زما دښمنه یوازې دوبا ناروغي ده. څکه زما پلار او موریې وژلي دي، آیا نه غواړې چې دواړه سره دوستان شو او یو ځای لوی بابا ته ورشو؟

د سنک پر نجلۍ زړه وسوځیده او ورته یې وویل:

- سمه ده، راځه چې یو ځای بابا پیدا کړو، ته ډیره سپیڅلې نجلۍ یې. زه نه غواړم له تا سره دښمني وکړم، اصلاً زه هم نه پوهیږم زموږ خلک ولې

دښمني کوي، زه د کرکې په نامه په خپل زړه کې څه شی نه پېژنم.

او هغوی دواړه د کسي غره د سپينې کلا په لوري وخوځېدل او د بابا د لوی کور وریې وټکولو. کله چې دواړه د بابا مخې ته ودرېدل نو يو ځای يې په لوړ غږ وويل:

- السلام علیکم زموږ مهربانه بابا!

بابا ورته په مینه وويل:

- وعلیکم، ګرانو ماشومانو، تاسې څوک یاست؟ او د څه لپاره تردې ځايه راغلي یي؟

سنک وويل:

- ګرانه بابا زه پاریتي سنک یم، کلونه کلونه وشول چې زموږ خپل خپلوان، له ګنداریانو سره په جګړه بوخت دي او هر ورځ موږ ډېر ځوانان مري، کلي مو سوځي او ورانيږي، موږ په دې نه پوهېږو، چې دې جګړې اور څنګه مړ کړو؟ نو ځکه تاسې ته راغلو، څو د نیکمرغۍ او سولې لاره راوښیئ.

پیکۍ هم داسې په خبرو پیل وکړ:

- مهربانه نیکه زه (پیکۍ) نومیږم او د سپین غره په لمن کې د ګنداریانو له قبیلې څخه یم، پلار او مور مې دواړه و با ووژل او زموږ نور خپلوان هم نږدې دي چې ټول د دې ناروغۍ خوراک شي، هیله ده تاسې له دې بلا څخه د خلاصون لاره راوښیئ!

بابا یو څه سوچ وکړ او ویې ویل:

- زما ګرانو لمسیانو! زه ډېر افسوس کوم، چې تاسې ډېر کوچني

یاست او نه شئ کولای د نیکمرغي لاره په یواز یتوب پیدا کړئ.

هغوی په پوره ډاډورته وویل:

- بابا جانه ته خو لارې راوښیه مونږ له هیڅ شي څخه نه ویریږو گوندې خپلو خلکو ته نیکمرغي پیدا کړو.

بابا وویل:

- نو غوږ شئ د پسرلي ښکلي فصل زمونږ او تاسو پر سیمه یوه ښکلې لینده درولې وه، دغې لویې لیندۍ او وه ډوله رنگونه درلودل، جگړه او وباله دغې لیندۍ څخه نه شول اوښتی، نو ځکه زمونږ کلي له دې بلا و وڅخه خلاص و، خو څو کاله وړاندې، یوه توره او کوږ گره بوډۍ را پیدا شوه، دغه لیندۍ یې د پسرلي له کور څخه غلا کړه او له هغې نه یې ځانته تال جوړ کړ، چې اوس په کې زانگي راز انگي جگړې او وبا چې ولېدل ښکلې لیندۍ نه شته، نو هماغه وو، چې زما پر بچیانو یې یرغل وکړ، هغوی یې په خپلو منځو کې سره دښمن کړل او نور یې دوبا په ناروغۍ ووژل.

نو گرانو بچیانو!

تر څو بوډۍ مړه نه شي او لیندۍ بېرته په آسمان کې ونه درول شي، تر هغو نیکمرغي نه شي راتلای. او بوډۍ باید یوازې او یوازې پر هماغې لېندۍ وویشتل شي، چې اوس یې زانگوده، که نه د بلې لیندۍ په ویشتلو نه مړه کیږي، داخو ډېر لوی کار دی ډېر و مشهور و پهلوانانو په دې لاره کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی او یا هم د بوډۍ په جېل کې بندیان شوي دي، کوږ گره بوډۍ ډېره ظالمه او ویروونکې ده، هغه له دې ځایه لرې په یوه غره کې او سیږي، چې (تورغر) یې بولي.

سنک په پوره هوډ او میړانه وویل:

- بابا زه غواړم بوډۍ ووژنم، هیله کوم د تورغره لاره راوښیه، په دې وخت کې پیکۍ وویل:

- زه هم له سنک سره ځم، ګوندې څه مرسته ورسره وکړم. نیکه په ډېره خوشالۍ ورته وویل:

- بچیانو تورغر د لمر پریواته خواته پروت دی، زه په تاسې ډاډ لرم، ځکه چې تاسې په خپل منځ کې ملګرتوب دوستي، یووالی او اتفاق لرئ، ځئ ولاړ شئ زما دعا تاسې سره ده.

له ډیر مزله وروسته یوه ورځ سنک او پیکۍ د تورغره لمنې ته ورسیدل. سنک هلته د یوې تیږې پر سر یوه ډېره ښکلې مرغۍ ولیده، خپله لیندۍ یې له غاړې څخه راوویسته او هغه یې په نښنه کړه، خو ډېر ژر پیکۍ هغه تیل واهه او د سنک غشی په خطا ولاړ او مرغۍ والوته، سنک غوسه شو، خو پیکۍ ورته وویل:

ګوره سنکه! هغه څومره ښکلې مرغۍ ده، ولې دې غوښتل هغه ووژنې؟ ته کولای شې خپله نښنه په بل څه و آزمویې، پرالوتونکو باید زړه سوی وشي. سنک څه ونه ویل او هغوی دواړه د بوډۍ د تورې مانۍ په لور وخوځیدل. بوډۍ د یوه ځنګله په منځ کې ځانته مانۍ جوړه کړې وه. کله چې د سنک او پیکۍ سترګې په هغې ولګیدې ډېر په ډارشول، بوډۍ خورا ډارونکې څېره درلوده. هغه په یوه ښکلې تال کې ناسته وه، او زنګیده. تال او وه رنګه درلودل.

سنک سملاسي خپله کوچنۍ لیندۍ راوویسته په هغې کې یې یو تېره

غشي کېښود ، بوډۍ يې نښه کړه ، لينډۍ يې ښه کش کړه او غشي يې د بوډۍ پر لوري ورخوشې کړ . خو غشی پر بوډۍ و نه لګيده ، يوازې د هغې پام يې د سنک خواته راواړاوه ، بوډۍ کله چې سنک ولېد ، نو په کرس کرس يې وخندل او په غوسه يې ورته وويل:

بد مرغه ماشومه ، تا غوښتل ما ووژنې ؟ خو په دې نه يې خبر چې ډېرو سترو سترو پهلوانانو د لته خپل بخت آزمويلی دی . او اوس يا مړه دي او يا خو په جهل کې پراته دي.

ډېر ژر به تا هم په جهل کې وغورځوم ، تر څو وپوهيږې ، چې پر ما باندې غشي ويشتل څه معنا لري.

بوډۍ سمدستي سنک خوارکی په جهل کې بندي کړ ، خو پيکۍ ځان ديوې ونې شاته پټ کړی و ، ځکه نو بوډۍ هغه ونه شوه ليدی.

پيکۍ خواره کله چې يوازې شوه ، نو په ژړا يې پيل وکړ ، هغه نوره يوازې پاتې شوې وه او سنک د بوډۍ په لومه کې نښتی و . او له بلې خوا ډېره ويريدلې هم وه هغې ډېر وژړل خويو وخت يې پام شو ، چې يوه ښکلې مرغۍ يې څنګ ته پر يوه ځانګه ناسته ده او له پيکۍ څخه پوښتنه کوي چې:

-مهرباني نجلۍ ولې ژاړې ؟

پيکۍ ځواب ورکړ:

- بوډۍ زما ملګری (سنک) جهل ته وغورځاوه ، زه نه پوهيږم چې په هغه خوارکي به څه تېر شوي وي ، دا بوډۍ ډېر ظالمه ده ، هغې زموږ د کلي له سر نه هغه ښکلې لينډۍ غلا کړې ده او ځانته يې تال ورڅخه جوړ کړی دی.

موږ غوښتل هغه بېرته د خپل کلي آسمان ته ستنه کړو، چې له هغه ځايه جګړه او وبا ورکه شي.

مرغۍ چې په هر څه پوهېده، نو پيکۍ ته يې وويل:

- ښکلې نجلۍ مه ژاړه، تاله ما سره نيکي کړې ده او خپل ملګرې دې زما له ښکارکولو څخه منع کړ. اوس زه هم حاضره يم له تا سره نيکي وکړم.

پيکۍ ورته وويل:

- اوه ښکلې مرغۍ ډېر افسوس کوم، چې ته ډېره بې وسه يې او له ما سره مرسته نه شې کولای.

مرغۍ ځواب ورکړ:

نه داسې نه ده زه ډېر څه کولای شم، زما داسې سندرې زده دي چې په خپل خواږه غږ سره يې ووايم، نو بوډۍ ته خوب ورولي، دا بوډۍ ډېر دروند خوب لري، کله چې هغه ويده شوه، ته ژر د هغې له غاړې څخه د کونجيو کړۍ را خلاصه کړه او خپل ملګرې آزاد کړه، بيا نو کولای شئ له دې ځای څخه وتښتي، پيکۍ د دې خبرو په اوريدو ډېره خوشاله شوه، مرغۍ سملاسي پاڅيده او د بوډۍ څنګ ته په يوه څانګه کيناسته او په خپل خواږه غږ کې يې داسې ښکلې سندرې پيل کړې، چې بوډۍ ته خوب ورغی. کله چې د بوډۍ خوب ښه درو‌ند شو او د خوراوپف غږ يې پورته شو، پيکۍ په ډار ډار وروړاندې شوه، که څه هم چې بوډۍ ډېره ويروونکې وه، خو پيکۍ خپل زړه کلک کړ او د هغې له غاړې څخه يې د کونجيو کړۍ پرانيسته، بيا يې په منډه منډه د سنک د بندی خانې ورپرانيست.

سنک په ډېره خوشالۍ له جيل څخه راووت، کله چې هغوی دويدې

بوډۍ له څنګه تېرېدل، ویې لیدل چې بوډۍ په خوب کې له ټال څخه را کوزه شوې او پر ځمکه ویده ده. نو سنک ته د ستر بابا خبره ورپه یاد شوه، ډېر ژر یې د پسرلي ښکلې آسماني لیندۍ را خلاصه کړه، یو ښه تېره غشی یې په کې کېښود. هغه یې بوډۍ ته نښه کړه، بیا یې نولیندۍ ښه راکش کړه او غشی یې د بوډۍ په خوا ورخوشې کړ، غشی مخامخ دویدې بوډۍ په سترګه کې ننوت هغې یوه ویروونکې چیغه وکړه او پرمخې پر ځمکه را نسکوره شوه، د بوډۍ له وژل کیدو سره سم سنک او پیکۍ دواړو په ډېرې خوشالۍ سره ښکلې لیندۍ د آسمان په خوا ګوزاره کړه، لیندۍ له شمال څخه جنوب ته خوره شوه، خپل ښکلي او وه رنګونه یې وځلول او د پسرلي غیږه پرې ښکلې شوه.

سنک او پیکۍ دواړه لاس په لاس د خپلو کلیو په لور راغلل، کله چې هغوی د ګندارياڼو کلي ته ورسیدل، نووې لیدل چې د پیکۍ انا په خندا هغوی ته غیږ پرانیسته او د هغوی په لیدو یې داسې چیغه کړه:

آه! زما کوچنیو اتلانو وګورئ چې زموږ له کلي څخه څنګه دوبا بد مرغه ناروغۍ وتښتیده. او ټول ناروغان جوړ شول.

وایي چې له دې ورځې وروسته پاریتیانو او ګندارياڼو په خپلو منځو کې د ورونو په شان ژوند کاوه، سنک او پېکۍ یو له بل سره واده وکړ او د هغوی له واده سره ددې دواړو قومونو په منځ کې اوږده دښمني په کلکه دوستي او خپلوي بدله شوه، د هغوی واده د ستربابا په سپینه کلا کې تر سره شو. بابا هغوی ته د نیکمرغۍ دعا وکړه دواړو تورغره ته نږدې ځانته کور جوړ کړ او د بوډۍ ټال به هر کال پسرلی د هغو د کور په سر ځلیده او هغوی

ته به یې خندل. هغې ښکلې مرغۍ د دوی د کاله پر بام ځاله جوړه کړه او له دوی سره یې، یو ځای ژوند پیل کړ. دې ښکلې مرغۍ چې (درونتېه) نومیده په خپله ځاله کې یې ښکلې هګۍ کېښودې او اوس هم ډله - ډله په دې سیمه کې ژوند کوي او هغه وخت چې د بوډۍ ټال په آسمان کې راښکاره شي نو په ښکلې غږ ډیرې زړه راکښونکې سندرې وایي. دغه سیمه اوس هم (درونتېه) بولي، چې جلال آباد ښار ته نږدې پر ته ده.

پایله:

دا یوه ښکلې تاریخي کیسه ده چې له هغې څخه د دوستۍ، زړورتیا، کلک هوډ او له جګړې څخه کرکه زده کیږي.

ماشومان له دې کیسې څخه سره له دې چې د خپل هیواد د تاریخ او لرغونیو نومونو او ځایونو د نومونو په هکله معلومات تر لاسه کوي دا هم زده کوي چې څنګه په خپلو کې یو له بل سره دوستي وکړي، له جګړې څخه کرکه ولري او د سولې او ورور ولۍ لپاره هڅه وکړي، دوی باید د مشرانو خبره ومني او په کارونو کې له خپلو مشرانو سره مشوره وکړي. په الوتونکو او بې ضرره حیواناتو زړه سوی ولري او یو له بل سره مرسته وکړي. چې د سنک او پیکۍ په شان هم خپله خوشاله اوسي او هم خپلو خلکو ته خوشالي او سوکالي راولي.

له «پښتو قصې» کتاب څخه:

زمري او سويه

وايي چې په يو ځنګله کې يوزمری اوسيده، چې ډېر زوړ شوی و او د ښکار وس او توان يې نه درلوده، نويوه ورځ يې ټول حيوانات راغونډ کړل او دايې ورته وويل، چې تاسوخو ګورئ چې زه اوس له کاره پريوتی يم او په خپله ښکار نه شم کولای، نو هره ورځ راته يو يو راځئ چې زه مو خورم او د ګيډې کار به مې کيږي، دوی ټولو په ځان باندې و منله چې ښه ده موږ په سراو سترګو خدمت ته تيار ولاړيو. او هر څنګه چې ستازړه وي، هماغسې موږ آماده يو. حيوانا تو په خپل منځ کې وار کېښود چې له هرې ډلې نه په خپل خپل واريويو راځي، په دې ډول خبره فيصله شوه ټول له زمري نه رخصت شول، او خپلو خپلو ځايونو ته ولاړل، څه موده چې تېره شوه نو دا حيوانات ټول د دې بيګارله لاسه تر پوزې راغلل. يوه ورځ ټول راغونډ شول او په خپل منځ کې يې دا جرګه وکړه: چې موږ خو د دې زمري له لاسه ډېر په تنګ شوي يو، دا چې هره ورځ رانه يويو خوري، په آخر کې به موټول خلاص کړي، اوس د دې خبرې څه علاج په کار دی، که نه وی نو ټول به خلاص او تباه شو. ټولو يو بل ته مخ واړاوه چې د دې کار ته څوک ملا تړلی شي يو هم په ميدان کې پانه څيده، ټولو يو بل ته خړ خړ کتل او هيچا دا زړه نه شو کولای

چې را پاڅیږي او ځان له زمري سره مخامخ کړي. آخر کې وږه سویه را پاڅیده او ټولو ته یې ډاډ ګیرنه ورکړه ویې ویل: مه خپه کیږئ دا کار به خدای (ج) کوي او زه به یې کوم. هیڅ چرت مه وهئ، د انور حیوانات حیران شول چې سوی ته ګوره او د زمري وژلو ته ګوره، دا به څنګه د زمري کار وکړي؟ یو موټی وجود یې دي، که چا ورته ملاوتړلو په دوه ګوتو به یې ووژني.

سویه وویل: چې په وجود مې مه غولیږئ، که وجود مې ډیر وړوکی دي، خو له ډیرو غټو خټو نه ښه یم. سپک نظر هیچا ته په کار نه دی، ډیر واړه حیوانات دي چې د لویو کار کوي، زه به زمري ووژنم.

حیوانا تو ورته وویل: ډیره ښه ده خدای (ج) دې وکړي چې ستا له لاسه څه وشي. موږ نور څه غواړو؟ خو چې د زمري له غمه خلاص شو، په دې خبره د ټولو سلا راغله او له دې فیصلې نه وروسته ټول خپلو خپلو ځایونو ته خواره شول.

یوه ورځ د سویې وار راورسیده چې باید زمري ته ورشي او هغه یې وخوري، خو سویه زمري ته ورنه غله، زمري ډیر وږی شو، سترګې یې په کتو کتو سپینې شوې، چې سبا شو نو زمري له خپله ځایه په قاراوغوسه ووت، سویه هم له خپله ځایه راووته او په لاره کې سره مخامخ شول. زمري ورته په ډیره غوسه وویل:

– پرون چیرې ورکه وې، زه دې له لوږې مړ کړم، په انتظار مې سترګې ووتې:

PROPERTY OF ACKU 10684

سویې ځواب ورکړ:

– قربان دې شم، زه خو پرون وختی له ځایه راروانه شوی وم. مګر په لاره کې را باندې یو بل زمری پېښ شو. او زه یې ونیولم، ویل یې چېرته ځې، ما ورته ستا نوم واخیست چې هلته ځم، نو دی راته په غوسه شو چې هغه لا څوک دی چې ته ورځې؟ ډېر ساعت یې په لاره کې ایساره کړم، مګر او س مې ځان ورڅخه په یو چل خلاص کړ. زمري چې دا خبره واوریده، غوسه یې لا زیاته شوه. سویې ته یې وویل: راځه ته دا زمری چېرته دی، چې ته یې په لاره کې ایساره کړې وې، زه به یې اوس علاج وکړم. او دا کلانکاري به یې له سر نه وکاږم. سویې ورته وویل: دلته یوه څاه ده هغه زمری په همدې څاه کې اوسیږي، اوس به دې ورولم. سویه مخکې شوه او زمری وریسې چې د کوهی (څاه) غاړې ته ورسیدل، نو سویه له څاه څخه لرې ودریده او زمري ته یې وویل چې دې څاه ته سرور ښکاره کړه نو تا ته به زمری معلوم شي. زمري چې سرور ښکاره کړه او هو کې یې خپل سیوری ولید، خیال یې وکړ چې دا هغه زمری دی، چې دا سویه یې ایساره کړې وه، نو له قهره سور شو او څاه ته یې ورټوپ کړ. غړپ یې شو چې په څاه کې ولویده، نو سویې له خوشالۍ نه ټوپونه کړل او په منډه منډه لاړه ټول حیوانات یې خبر کړل، چې له خیره سره د زمري له غم نه خومې خلاص کړئ، په داسې کنده کې مې وغورځاوه چې په ټول عمر کې به ترې خلاص نه شي، حیوانا تو ټولو په سویې آفرین وو ایه او شاباسی یې ورکړ او ددې چل ته حیران شول.

پایله: دا د حیواناتو په ژبه یوه خوږه کیسه وه چې ماشومان ورڅخه پند او تجربه اخیستی شي، لومړی دا چې باید هېڅ څوک خوارونه ګڼل شي او لکه حیواناتو چې سویه ګڼله په سپک نظر چاته کتل په کار نه دي.

او بله دا چې باید سړی په ځان ډاډه ولري او هر کله چې په خپل ځان ډاډه واوسو، لوی لوی کارونه تر سره کولای شو، سویه په خپلې هوښیارۍ ډاډه وه، چې زمری یې له منځه یوړ.

او دریمه دا چې په نور و ظلم کول او په تیاره خواړه غوښتل داسې نتیجه لري لکه زمری چې بلآخره په څاه کې ولویده، زمری خپل زور ته غره وو او نور حیوانات یې خوړل چې په پای کې په خپله د حیواناتو د چل ښکار شو.

نیکي او ښیګڼه

په نړۍ کې ډول ډول مخلوقات اوسي. یو د هغو له ډلې څخه ځناور دي. ځناور د خپل ژوندانه د تیرولو له پاره ځانګړې طریقې او لارې چارې لري.

وایي چې په یو ځنګل کې د ځناورو پاچا زمري له یوې زمرۍ سره په خوشحالۍ ژوند تیراوه. یوه ورځ نا څاپه زمرۍ په لنګون کې مړه شوه. د هغې ناڅاپي مړینې زمري ډیر پریشانه کړ او د پریشانۍ بوه لویه وجه یې داوه چې د هغې نه دري واړه بچي پاتې شول چې هغو شیدو او نورې پالنې او روزنې ته اړتیا لرله. هغه په همدغو اندیښنو کې ډوب و، نه پوهیده چې څه وکړي، نا څاپه یې پر هغو او زوسترګې ولګېدلې چې دده له غار نه لرې وړاندې څریدلې. دا هیله ورسره پیدا شوله چې له هغو نه وغواړي چې کومه یوه یې دده بچیانو ته په شیدو ورکولو او روزنه کې مرسته وکړي، په ډېرې عاجزۍ او زارۍ یې هغوی ته سترګې ور واړولې او ورڅخه یې وغوښتل چې دده خواته راشي او یوه ډېره ضروري خبره یې واوري.

نورې اوزې د داړلوله ویرې بوه خوا بله خوا وتښتېدلې. یوې اوزې چې د زمري اندیښنې څیرې او له عجز او زاریو ډک غبر ته پام شو، دا فکر ورسره پیدا شو چې حتماً زمري ته کومه لویه او سخته ستونزه او مشکل

ورپیښ دي، باید مرسته او ښیګڼه ورسره وکړم. نو یې ورته وویل: هسې نه چې په دې پلمه چې د غلته دروغوا ړې او بیا مې وداړې. له ما سره وعده وکړه چې خوری به چې نه، نو بیا به زه د غلته درشم او ستا خبره به واورم.

زمري ورته وویل: چې نه خبره د غسې نه ده. زه ډیر پرېشانه یم او له تانه په یو کار کې مرسته غواړم. زه وعده کوم چې خورم او داړم دې نه. او زې زړه لوی کړ او ورو ورو د زمري خوا ته راغله او ورته یې وویل: زه به ستا څه کومک وکولی شم؟

زه یوه معمولي او زه یم او ته د ټول ځنګل پاچا یې. زمري د غار خواته اشاره وکړه ویې وویل: هلته زما ددرې واړه بچی دي، موریې تر لنګون وروسته مړه شوې ده.

اوزې چې دا هر څه په خپلو سترګو ولیدل، زمري ته یې وویل. زه په دې کې له تا سره څه مرسته کولي شم؟

زمري وویل: ته له ما سره همدو مره احسان او ښیګڼه وکړه چې وورځې دوه ځلې راشه او دې بچیانو ته مې شیدې ورکوه، زه به ستا د الو به نیکي هیڅکله هیره نه کړم.

اوزې ورسره و منله. له هغې وروسته به هر ه ورځ دوه ځله، سهار او ماښام را تلله او د زمري بچیانو ته به یې شېدې ورکولی. شپې او ورځې تیریدلې او د زمري بچي ورو، ورو لوئیدل تر هغې چې په خپله د ښکار کولو شول.

یوه ورځ زمري او زې ته وویل! تا له ما سره ډېر لویه نیکي وکړه، او س وو ایه چې زه ستا څه خدمت وکړم؟

اوزې وویل اې د ځنګله پاچا! زما به له تانه څه هیله او غوښتنه وي، زه یوه اوزه یم، یوه خوا بله خوا په ځنګله کې ګرځم، څرم به او په لږو ښو هم خپله ګزاره کولې شم. زه له تانه هیڅ نه غواړم.

زمري چې د اوزې ځواب واورېده، سمدستي یې فیل را وغوښت او ورته یې وویل چې تر دې وروسته ته دې د اوزې نوکر شوې، سهار به دا اوزه پر خپلې شا سپروې، چې هر چیرې ښه واښه وي، هلته به یې بیا یې او د نور ځنګل سیل به پرې هم کوې. تر دې وروسته به فیل د زمري له حکم سره سم هره ورځ اوزه سهار پر خپلې شا سپروله، د ځنګله سیل به هم یې پرې کاوه او ښو څرځایونو ته به یې هم بیوله. ماښام به یې خپل کور ته راوستله. دا سلسله همداسې روانه وه. یوه ورځ سهار چې اوزه پر فیل سپره په ځنګله کې ګرځېدله، فیل د یو ډنډ ترڅنګ تېرېده، د یوې صحرائي هیلۍ ورته پام شو، هغې چې اوزه د فیل پر شا سپره ولیدله، حیرانه شوه چې دا وړه او زه څنګه دومره لوړ مقام ته رسیدلې او یو لوی او قوي فیل یې په حکم روان دي هیلۍ پر اوزې غږ وکړ: داڅه کمال دې کړی چې د الوی فیل دې د ځان تابع کړی دی؟اوزې ځواب ورکړ: په احسان او ښیګڼې کولو مې دا لوړ مقام موندلی دی.

هیلۍ چې دا خبره واورېده، نو فکر یې وکړ چې داخو ډېره ښه او آسانه خبره ده،زه هم باید احسان او نیکي وکړم تر څو چې د غسې یو لوړ مقام ته ورسیږم.

په همدې هڅه او لټه کې ګرځېدله، یوه ورځ یې ولیدل چې یو موږک په ډیرې چالاکۍ له خپل سوري څخه راووت، یوه خوا بله خوا یې منډې رامنډې

وهلې. ناڅاپه د اوبو ډنډ ته وغورځیده ، هیلۍ ته سمدستي د اوزې خبره ورياده شوله او فکر يې وکړ چې همدابې د احسان او نېکۍ وخت دي، د موږک خوا ته چې د دوبیدو په حال کې و ، په چټکۍ سره ورغله، موږک يې پر خپلو پرونو کښیناوه ، و چې ته يې پورې بوست. هلته یې ښکته کړ او ورته يې وویل: ته د لته لږ ته خپل ځان وچ کړه. زه به لږ ځان د دې ډنډ په غاړه موږ کړم ، بیا به دې بېر ته ډنډ هغې بلې غاړې ته ورپورې باسم. څه شیبه وروسته چې هیلۍ ولیدل چې موږک وچ شو ، هغه يې پر خپلو وزرونو سپور او په ډنډ کې هغه بلې خوا ته لاهو شوه. موږک چې سترګې د هیلۍ په وزرونو ولګیدلې ، فکریې وکړ چې څومره ښکلي نرم نازک وزرونه لري. ورو ورو او په ناخبرۍ کې يې په خپلو تیزو غاښونو دهغې د وزرونو د بڼکو په وېستلو پیل وکړ ، ډیرې بڼکې يې ورڅخه پرې کړې ، خو هغه پرې خبره هم نه شوه. تر هغه چې موږک يې هغې بلې غاړې ته پورې یوست ، موږک يې سمدستی له وزرو نو څخه وچې ته توپ کړ او په منډه منډه خپلې سوړې ته ننووت.

لږه شیبه وروسته هیلۍ غوښتل چې والوزي او خپلې ځاې ته لاړه شي ، هر څومره خواري چې يې وکړه الوتلی نه شوه ، ځکه چې د الوتلو پرونه يې موږک د راپورې وتلو په وخت په غاښونو پریکړي ،ورڅخه غورځیدلي او د الوتلو قوت يې پوره دلاسه ورکړي و ، نو په تېږونو يې ځان د ځنګله ځناورو د داړلو او يا د خلکو نیولو د ويرې په بوټو او وښو کې پټ کړ.

تر دې وروسته به هغه کله نا کله غلې دوښو او بوټونه راوتله او په ويره ويره به څرېدله او دې ته سترګې په لاره وه چې کله به اوزه راځي او دا به ورته

د خپلې نېکۍ د بدلې کیسه بیانوي.

بله ورځ چې ا وزه پر فیل سپره ښېا د ډنډ تر څنگه تیریدله ، هیلۍ ورمخې ته شوه او په شور او فریاد یې ورته وویل:

ستا مشورې خو زه په دغه بدحال کړم. تا خو ویلي وو چې نیکي به دې لوړ مقام ته ورسوي. اوزې ترې وپوښتل:

له چاسره دې نیکي کړې وه ؟

هغې ورته له موږک سره د احسان او ښیگڼې کیسه او پیښه بیان کړه. اوزې وویل: په دې کې شک نشته چې نیکي او ښیگڼه ښه او غوره کار دي، خو کاشکې چې تا یې اصل او نسل ته کتلی او بیا دې نیکي ورسره کړې وای.

نتیجه: کیسه د ښیگڼې او نیکي کولو غوره والی څرگندوي، که څه هم نیکي له هر چا سره ښه او غوره ده خو د کیسې نتیجه تاکید کوي چې له هغه چا سره باید نیکي وشي چې نېکۍ پوهیږي او د نیکي کونکي نېکي هیره نه کړي.

سحر ناکه کلي

کلونه کلونه پخوا د ماورالنهر د ښکلو ښارونو په يو ښار کې يو ځوان اوسيده چې ډير لټ واو هيڅ کار ته يې ډډه ونه لګيدله. مورا و پلار يې که هغه ته هر څومره نصيحت کاوه چې چيرته په کار پسې ولاړ شي، خو ده به د هغوی په خبرو غوږونه کښول او څه پروايې پرې نه کوله.

تر هغه وخته پورې چې پلار او مور يې ژوندي وو، خوا ړه هغوی ورکول، خو کله چې هغوی له ژونده سترګې پټې کړې، ځوان داسې څوک نه درلودل چې خرڅ يې ورکړي.

پلار او مور يې هم کومه پانګه اوشتمني ورته نه وه پريښې. دې ځوان چيرته له چانه اوريدلي وو چې يوه سحر ناکه کلي شته چې هره دروازه پرې پرانيستل کيږي.

هغه ډيره موده په دې فکر کړي و چې که دا کلي لاس ته ورشي، په هغې به د خلکو د کورونو دروازې بيرته کوي، غلا به کوي او د غسې به ځان د پيسو او شلق خاوند کړي.

يوه ورځ چې ځوان په ښارګې په لاره روان و، د يو سپين ږيري غږ يې واوريد چې په لوړ غږ يې ويل: کلي ګانې لرم هرډول کلي چې تاسې غواړی لرم يې!

ځوان له ځان سره فکروکړ چې د دې سړي خواته ولاړشي، کيدای شي

هغه سحر ناکه کلي هم ولري.

ځوان ورغي ورته یې وویل: وامې وریدل چې هر ډول کلي لرې؟

سپین ږیری وویل: هو، هر ډول چې غواړي را سره شته. ځوان وویل: آیا سحر ناکه کلي هم در سره شته؟

سپین ږیری د سترګو لاندې هغه ته په حیرانتیا وکتل او موسکا سره یې وویل: له سحر ناکه کلی؟ اوه، هو، لرم یې!

ځوان پوښتنه وکړه: دا کلي هره دروازه بیرته کولای شي؟

سپین ږیری ځواب ورکړ: هو، هره دروازه بېرته کوي، زه خو تا ته دروغ نه وایم.

ځوان فکر وکړ چې امکان لري دا سپین ږیری درواغ وواېي، نو له لږ فکرنه وروسته یې وویل: که رښتیا وایې راځه چې سمدلاسه ولاړ شو، زمونږ د کور دروازه پرې بیرته کړه.

ځوان او سپین ږیری دواړه روان شول. د بازار د سرک نه یو بې تنګی کوڅې ته وروګرځیدلي او د یوې دروازې مخ ته ودریدل:

ځوان وویل: دا زما کور دی، که رښتیا وایې دروازه یې به بیرته کړي!

سپین ږیري د خپلو کلي ګانو ګیډۍ را واخیسته، یوه کلي یې تری بیله کړ، ځوان ته یې ورکړه او ورته یې وویل: واخله ته پخپله پرې دروازه بیرته کړه.

ځوان چې کلي په کلپ کې کیښوده او حرکت یې ورکړ، دروازه بیرته شوه په داسې حال کې چې سترګی یې له حیرانتیانه رډی راوتلې وی وې ویل:

عجیبه ده، دا خو بیرته شوه.

سپین ږیری د شونډو لاندې وخندل، خو څه یې ونه ویل ځوان ډیر خوشحاله شو، له ځان سره یې وویل: له دې نه به نور ښه کار چیرې وي چې دا واخلم، لاړ شم او هر کور چې غواړم پرې بېرته یې کړم او غلا پکې وکړم.

څو دا فکر هم ورسره پیدا شو چې دا کلي به خامخا گران بیه وي او زه چې پیسې نه لرم دا به کله واخیستلې شم.

پوښتنه یې وکړه. حتماً دا کلي ډیره قیمته ده؟!

سپین ږیري ځواب ورکړ: نه، ډیره گران بیه نه ده، یوه افغانۍ قیمت لري.

ځوان وویل: دا خو ډېره ارزانه ده، یوه افغانۍ خو هیڅ شی هم نه دی، دا خو د یوې معمولي کلي بیه ده!

سپین ږیري وویل: وایم چې گرانه نه ده، ښه څنگه غواړي یې ځوانه؟

ځوان لږ حیران غوندې شو، څنگه یوه کلي چې دومره ارزښت او کمال ولري دې ته دومره دې ارزانه وي؟

د خپل ډاډ له پاره یې وویل: ښه، هره دروازه چې وغواړم پرې بیرته کولی یې شم، ته پرې مطمئن یې؟

سپین ږیري وخندل، لاس یې پخپله سپینه ږیره راتیر کړ او وې ویل: هو، دا هره دروازه بیرته کوي، خو یو کوچنی شرط هم لري. ځوان په ډیرې نارا حتۍ سره وپوښتل: څه شرط؟

سپین ږیري وویل: دا کلي هره دروازه بیرته کوي، خو شرط پکې دا دی چې هغه شخص پاک، سم او صادق وي.

ځوان وویل: دا سې چې ته وایې، یعنی زه نشم کولي بل کورپې بېرته

کړم؟

سپینږیري چې لـه لومړی سرنه د ځوان په مقصد او غـرض پوهیدلی و، په موسکا سره یې وویل: که لـه اجازی نه پرته د غلا پـه نیت ورشې هیڅکله هم نه.

ځوان حیـران شو او په فکر کې ډوب شو او بیا یې له ځان سره وویل ښه، چې داسې ده، نو بیا دا خو زما په درد نـه خوري. دا کلي خو یوازی زما خپل کور بیرته کولی شي او په هغې کې هم څه نشته.

سپین ږیری خپلو خبرو تـه ادامه ورکړه!

زویـه! هیڅ داسې سحر آمیزه کلي نشـتـه چې د خلکـو د کور دروازه ستاسو په مخ ددې له پاره پرانیځی، چې ته پکې غلا وکړې.

سپـین ږیری دا خبره وکړه، خپلـه لاره یې ونـیولـه او روان شو. ځوان څه شیبه پـه فکر کې ډوب شو او لـه ځان سره یې وویـل: دا څه وشول زما ټولې هیلې خو په همدې سحر نـاکه کلي پورې تړلې وي. ځوان چې ډیر خواشیني او نـا امیـده شوی و بې اختـیـاره یې په سپـیـن ږیري پسې منډه کړه او چې ورنږدې شو ورتـه یې وویل: نو زه څه کارو کړم؟

سپـیـن ږیری پـه ژور نـظر ځوان تـه وکـتـل او وې ویـل: هـغـه څه چې تـه ورپسې ګرځې، لـه همدا تاسره دي.

ځوان په حیرانتیاووېل: له ما سره؟

سپین ږیری وویل: سـتـا د سـتونزو او مشکلاتـو حل کوونکی ستا متې او فکـر دي ولې هغـه په کار نـه اچوې؟ ولي لـه خپل هغو استعدادونو نـه چې خدای ستاوجود ایښي دي، کار نه اخلې؟

ځوان تکان وخوړ او په فکر کې ډوب شو. بیا یې خپلو متېو ته وکتل، ته به وایې چې داسې نوې قوت او ځواک یې پکې حس کړ چې مخکې یې هېڅکله نه وحس کړی.

سپین ږیرې خپلو خبرو ته دوام ورکړ: هغه سړی ته وګوره چې څنګه ښتک پرسندان وهي، آیا به د هغې نه قوي نه یې؟

سپین ږیرې او ځوان پر سرک د یو آهنګر دوکان ته نږدې ولاړ وو. ځوان آهنګر ته ځیر شو چې او سپنه یې د ښتک د ګوزارونو لاندې د موم په شان نرمه شوې وه، او ځوانمرده ځیره یې داورد بټۍ په وړانګو کې بنه ځلیدله.

ځوان څو شیبې د آهنګر د کار په ننداره و. هغه ته په زور فکر کې ډوب تللی و، چې د سپین ږیري غږ هغه ته تکان ورکړ:

- هو، زویه! متې او ماغزه دې د ستونزو او مشکلاتو حل کونکی دي. په هېڅ سحرناکه کلي پسې مه ګرځه!

سپین ږیرې دا خبرې وکړې او پخپله مخه ولاړ. او ځوان یې هلته چې په فکر کې ډوب تللی و، یوازې پرېښود. ځوان له ځان سره فکر وکړ:

ښایی چې سپین ږیری رښتیا وایي. باید چې خپلو لستوڼی رابډوهم او د خدای په هیله او مرسته کار شروع کړم.

دوهمه برخه:

د ماشومانو سندرې (ترانې)

انسانان له ډېرې پخوا زمانې څخه له سندرو او ترانو جوړولو سره مينه لري او د سندرو، ترانو عمر زرگونو کلونو ته رسيږي، د ماشومانو ترانې هم ډېر پخوانی او لرغونی تاريخ لري.

د ماشومانو زياتره ترانې داسې دي چې د هغوی په خپله ژبه ويل شوي وي. ډېرې ساده او روانې دي، خوږ آهنگ لري او ډېر ځله د ماشومانو له خوا په گډه ويل کيږي. په داسې ترانو کې د هغه څه په هکله څرگندونې کيږي چې ماشومان يې په خپل چاپيريال کېويني او ورسره مينه لري، لکه ونې، اوبه، باران، ستوري، گلونه، حيوانات او نور.

د ماشومانو ځينې ترانې بشپړه معنا نه لري او هغه ځکه چې د لسگونو کلونو په اوږدو کې، کله چې نسل په نسل راليږدېدلې دي، بدلې شوي وي او کلمات يې اوښتي وي، يا خو کله چې له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته انتقاليږي تو پير مومي په ځينو ترانو او سندرو کې د يو شمير سيمو، کسانو، او شيزونو، نومونه ياد شوي وي چې يا خو د وخت په تيريدو سره بدليږي او يا هم په نورو سيمو کې د پېژندو وړنه وي، ځکه خو نورو ماشومانو ته مبهم پاتې کيږي، خو سره له دې هم داسې سندرې او ترانې د ماشومانو ترمنځ تل ويل کيږي.

ځینې ترانې د ماشومانو د ګډولو په وخت کې زمزمه کیږي ؛چې له هغو سره بو ځای ځینې ځانګړي حرکات هم تر سره کیږي.

د ماشومانو په وده او روزنه کې د ترانو ونډه:

سندرې او ترانې دا ښېګڼه لري چې ژر حافظې ته سپارل کیږي ، او ماشومان کولای شي تر څو څله تکرار وروسته یوه سندره له یاده زده کړي او هغه ځکه چې په ترانوا و شعرونو کې کلمات تیا کل شوي ځایونه لري او د ترانې دوزن له مخې باید هره کلمه په خپل خپل ځای وکارول شي، او کله چې ماشومان ترانې له یاده کړي د هغو له حافظې سره مرسته کوي چې وده وکړي او په راتلونکې کې ډېر څه حفظ کړای شي.

ترانې او سندرې د ماشومانو ذهن له وزن ، آهنګ او موسیقي سره هم آشنا کوي او د لومړي ځل لپاره یو ماشوم دا زده کوي چې څنګه له موزونو جملو او بیتونو څخه خوند واخلي. او څرنګه چې موزونه وینا او سندرې د انسان روح ته د آرامتیا احساس وربښي؛ کولای شي ماشومان هم آرامه وساتي. زیاتره میندې کله چې غواړي خپل کوچني ماشومان ویده کړي، هغوی ته له «آللوللو » تر څنګه خوږې سندرې هم زمزمه کوي، چې د کوچنیانو ذهن ته ځانګړی خوند او آرامتیا وربښي.

ترانې او سندرې ماشومان د چاپېریال له نویو شیزونو سره آشنا کوي او کولای شي هغوی د ناوړه کلماتو ، ښکنځلو او بدرد ویلو له زده کولو څخه وژغوري. د ژبپوهنې له نظره د کلماتو سم اداکول، د ترکیبونو ویش او پېژندل او د جملو تړل تر هر څه مخکې د ماشومانو د ترانو او سندرو له لارې ښه زده کیږي. ځینې هوښیار او ذهین ماشومان که د ترانو او سندرو

جوړښت ته پوره ځیرشي؛ کولای شي پخپله هم یو شمیر داسې ترانې او سندرې جوړې کړي، چې دا هم د ماشومانو د ادبیاتو په بډایښنه کې مرسته کولای شي.

ترانې زده کول او په لوبو کې د هغوي ویل ماشومان سالمو لوبو، بوختیاوو او ورزش ته هم هڅوي چې د پایلې په توګه یې ویلای شو: سندرې او ترانې د ماشومانو له سالمو او په زړه پورې مصروفیتونو څخه شمېرل کیږي.

دماشومانو د سندرو ویش:

هغه ترانې او سندرې چې د ماشومانو له خوا او یا خود ماشومانو لپاره ویل شوي دي، په لاندې ډولونو ویشلای شو:

۱ - فولکلوریکې سندرې: دا د ماشومانو لپاره هغه ترانې او سندرې دي چې ویونکي یې نه دي معلوم او له پخوانیو پیړیو څخه یې ماشومان د لوبو پر مهال وایي لکه دا مشهوره ترانه:

اکوبکو ربنالکو، سرسندکو
غوامې لاړه په دربکو... ترپایه

۲- د ماشومانو لپاره ویل شوي شعرونه او ترانې: دا د معلومو شاعرانو له خوا د ماشومانو لپاره ویل شوې ترانې او شعرونه دي چې د کوچنیانو د خوشالولو او مصروفیت لپاره ویل شوي وي او ماشومانه احساسات او عواطف په کې خوندي وي.

۳- د میندو له خوا ویل شوي ترانې او شعرونه: کله کله میندې او اناګانې چې غواړي ماشوم ویده کړي، او یا یې له ژړا څخه غلی کړي؛ خوږې

منظومې سندرې ورته وایې د «آللوللو» په نامه سندرې ډېرې مشهورې دي.

ځینې وخت میندې په داسې سندروکې خوږې کیسې هم کوي چې هغه هم منظومې وي او کوچنیان د خوږه خوب نږی ته ورمېلمانه کوي.

د ماشومانو د ترانو څو بیلگې:

فولکلوري ترانې:

مورمې تللې ده کامې ته
رابه شي غرمې ته
ماته به پلي راوړي
پلي به زه غواته ورکړم
غوا به ماته پی راکړي
پی به زه سیند ته ورکړم
سیند به ماته گاټې راکړي
گاټې به زه خدای ته ورکړم
خدای به ماته ورور راکړي
وه وروره بیدار شه
ستا په لونگی ډزې دي
گدې ودې ورځې دي

***

(۲)

بارانه مه ورېږه
پاس په کمره ورېږه
جينکۍ تولې دي
پاس په بام شولې دي
جينکۍ تار په تار
علي توپک د گوزار
نرۍ نرۍ باران دی
بابا مې راروان دی
د کټ لاندې پېشو ده
پېشو ته وايه پشې
بابا ته سترې مه شې

***

(۳)

شولې، واړه شولې
دشگۍ شولې سمسورې
ستاورور به شولې راوړي
درومال په پلو پورې
واخله خپلې مورې
داسې نه دي، لکه تورې

***

(٤)

اکو، بکو دم دړکو
انار اوړې سرې کپی
مړک یې وویشت پرلکی
خواره شې ابی
بابو جان دې لیونی کړ
په داتشه ځو تکی
اکو، بکو، سر سیندکو
غوامې ولاړه په ترپکو
اباسین بیالې، بیالې
په کې ناسته درخانی

***

(٥)

د ګنجې پر سرو ینبته دي
څلور دي، که پینځه دي
چاړه پرې اثر نه کړي
د بیاتیو پرې شرنګار دی
پک مې جمه داردي

***

(٦)

لاړمه بر خوړته
خوړکې یو چنارو
د چنار لاندې مارو
د مار په خوله کې تارو
تار زما په کارو
نه ښنبم د جبې او به
خوله به مې تنا کې شي
وطن به رانه پاتې شي

* * *

(٧)

نن به کړو، سبا به کړو
دربه کړو پیدا به کړو
په خدای به شي، په تا به شي
ته زموږه وروریې
شل کاله به گورې

* * *

(٨)

اوښه اوښه ډانګه
ډانګه دې غړانګه
په ببره کې تال واچوه
سبا، بیګاه پرې زانګه

***

(٩)

لـمـــرخـــتـــلـــى بـــاران اوري
گـــيــدړه و دوي، شـــغـــال يـــې گـــوري
لـمـــرخـــتـــلـــى بـــاران اوري
مورک پرغونډۍ ناست دی، د مستو بدلې بولي

***

(١٠)

كـــاشـــكـــې زه كـــوتـــره واى
نـــاســـتـــه پـــه ډبـــره واى
غـــاړه مـــې كـــمـــره واى
الا جـــين جـــين جـــين
پـــه كـمـيـس كـې مـې ده چـيـن

ماشومانو ته د ويل شويو شعرونو بيلگې:

كتاب

كـتـاب لـوسـتـلـى شـمـه
كـتـاب لـيـكـلـى شـمـه
كـتـاب مـلـگـرى زمـا
ښـه يـې سـاتـلـي شـمـه

کتاب کې پوهه ډېره
زه یادولی شمه
کتاب ښوونکي زموږ
ورته ویلي شمه
کتاب را ښايي لارې
وربانديې تللی شمه
« روغمن »

باران

شي د لمر له تودوخې نه
د اوبو پورته بړاس
توره وربځ شي ورنه جوړه
وخيژي چې هسک ته پاس
بیا وریږي بارانونه
اوبوي وچې بيد یا وې
د مږ و خاورو په رگوکې
وچليږي بيرته ساوې
پسرلی، اوړی، منی، ژمی
خورا خوند کړي بارانونه
وچکالي وچو به نه وي
ښيرازي وي او کښتونه

سورکې چرگ

زما سورکیه چرگه　　لکۍ دې برگه برگه
بنکې رنگارنگ لرې　　په سهار د اذان کړنگ لرې
دغمي په خېر دې سره کرکره　　گرځه چرگانو سره
ما ته کوکوکوو وایه　　لاړه د سبا وښایه
ښکلې د جوړجورې دې　　غاړه دې ده دنگه
زما سورکیه چرگه
زما سوزکیه چرگه

پلار ته!

گرانه پلاره گرانه!　　زما دزړه ارمانه!
تا نه مې کړه پوهه زده　　پلاره مهربانه!
ستړگوکې دې مینه ده　　مینه دې نیاز بینه ده
زما د وجود هر رگ کې　　ستا وجود وینه ده
زما د لویېدو جهان　　ستا د زړگي لوی ارمان
زما زده کړه ده هیله ستا　　خومره یې ته لوی انسان
پوهه به کړم زده پلاره　　ستا هیله به کړم پوره
گرانه پلاره گرانه!
زما د زړه ارمانه!

د میندو له خوا ډېل شویو سندرو بیلګې:

(۱)

آللـــولـــلـــولـــلـــو دلـتـه مـه راځـیـه غـلـو
د کـنـدو شـاتـه تـهـوپـک ده له تـورو سا چـمـوډک ده
آللـــولـــلـــولـــلـــو
آللـــولـــلـــولـــلـــو دلـتـه مـه راځـه پـیـشـو
کـتـهـوه کـې مـسـتـې دي پـیـشـکـې ورتـه غـلـې دي
آللـــولـــلـــولـــلـــو

***

(۲)

آللـــولـــلـــولـــلـــو ځـوی مـې پـالـوان دی
زمـــا د زړه ارمــــان دی
آللـــولـــلـــولـــلـــو ځـوی مـې ښـه سـړی دی
د زروډک مــنـــګـــی دی
آللـــولـــلـــولـــلـــو ځـوی بـه مـې پـاچـا شـي
پـــلار بـــه یـــې وزیـــر وي
دښـمـن بـانـدې بـه یې ویـروي

دریمه برخه:

د ماشومانو لوبې

لوبې کول د ماشومتوب د دورې یوه حتمي او لازمي ځانګړتیا ده، ماشومان د خوړو، څکلو او ساه ایستلو په شان لوبو ته هم اړتیا لري. لوبې د ماشوم په جسمي او ذهني وده کې د پام وړ ونډه لري. همداچې کوچنیان خیز کې او دریکې وهي، منډه اخلي، لاسونه خوځوي نو په جسمي وده کې یې د پام وړ پر مختګ راځي، لوبې کول د ماشوم د روغتیا ښه نښه ګڼل کیږي او هغه ماشوم چې په لوبو کې ډېر هوښیار، تکړه او فعال وي ښه او روښانه راتلونکی لري. په ډله ایزو لوبو کې ماشومان هڅه کوي تر خپلو همزولو وړاندې شي او ځان د لوبو اتل کړي. د اتلولۍ لپاره لومړنۍ هڅې او هیلې له همدې ځایه پیل کیږي. ماشوم خپل ذهني او فکري ځواک راټولوي او هڅه کوي له هر امکان څخه ګټه واخلي چې لوبه د خپل ځان یا خپل ټیم په ګټه پای ته ورسوي. چې داسې هڅې د ماشوم د فکري پر مختیا او جسمي ودې لامل ګرځي. له بلې خوا د پیدا کوژبکې اروا پوهنې له نظره، همدا چې کوچنی وینې له نورو همزولو سره مخامخ دی چې ځینې تر ده ځواکمن او ځینې ورڅخه کمزوري دي، نو له ځان سره پریکړه کوي ځان د ځواکمنتیا لوړې مرحلې ته ورسوي، خو په هره لوبه کې تر ځانه لاځواکمن همزولي وینې او دده هڅه او کوښښ نور هم پر مخ ځي چې بالاخره همدا هڅې او کوښښونه دده د شخصیت په ایجاد، ودې او بشپړتیا کې بنستیز او اساسي رول لوبوي.

هغه ماشومان چې يوازې وي او له خپل ځان سره لوبې کوي نظر هغو ماشومانو ته چې په ډلييزو لوبو کې برخه اخلي، بې جرئته ، وروسته پاتې او کمزوري وي. او فکري او جسمي استعدادونه يې سمه و ده نه شي کولای.

د ماشوم په ژوند کې د لوبو د همدې ارزښتونو له مخې ده چې د هرې ټولنې په فرهنګ کې په سلګونو داسې عاميانه لوبې د ودشوي چې فولکلور پوهان او کولتور پېژندونکي يې د څېړلو او پېژند لو په برخه کې هڅه کوي.

زموږ په ټولنه کې ماشومانه لوبې کولای شو په دريو ډلو وو يشو:

۱- د هلکانو ځانګړې لوبې: دا هغه لوبې دي چې معمولاً يې هلکان په خپلـو منځوکې سره کوي او تر ډېره جسمي حرکات په کې درانه او ډېروي. لکه ډنډه کلک (ډی) ګيرول (ګيرکان) ، تيږه اچول، توپ ډنډه او نورې لوبې.

۲- د نجونو ځانګړې لوبې: دا د نجونو ځانګړې لوبې دي چې په خپلو منځو کې يې تر سره کوي او جسمي حرکات په کې ډېر درانه او ثقيل نه وي، لکه: نانځکی کول، کورکاني، پنجاق، جزبازي، رسۍ لوبه، پټ پټکان او نورې لوبې.

۳- ګډې لوبې: چې هلکان او نجونې يې په ګډه تر سره کوي.

ډی (ډنډه کلک):

دا په هلکانو کې يوه پخوانۍ لوبه ده چې له دوو څخه د زياتو هلکانو ترمنځ تر سره کيږي. لوبه د دوو لرګيو په مرسته پر مخ ځي يو (ډنډه) ده چې له ٦٠ نيونې تر ٩٠ سانتي متروپورې اوږدوالی لري، او بل يې لغړی

(کلک) وي چې یوه لویشت اوږدوالی لري. د کلک دواړه خواوې نظر د هغه منځ ته نرۍ شوې وي. دې په پراخو میدوانونوکې تر سره کیږي، او ددې لپاره چې له لغړی څخه سم کار واخیستل شي، یوځانګړې ځای ورته کیندل کیږي چې له هغه ځایه بیا وویشتل شي.

لومړی هغه ماشومان چې غواړي په دغې لوبې کې ګډون وکړي په دووډلو ویشل کیږي، هره ډله یو مشر لري چې په لوبه کې ورته (میر) وايي، په دې لوبه کې بایلونکې ډلې ته شرط ایښودل کیږي چې یا به دساه تر سوزیدو پورې د (زو) غږ باسي؛ یا به د ګټونکې ډلې یوکس په اوږوسپروي .دا چې لومړی وار (نوبت) به د چاوي په دې پچه اچول کیږي یا «شیر خط» او یاهم «وچه اولمده» د پیل کوونکې ډلې لوری معلوموي. د لومړي نوبت خاونده ډله د هغه جر تر خوا راټولیږي چې کلک یا لغړي ورڅخه ویشتل کیږي، د مقابلې ډلې غړي د لوبې د میدان په بله څنډه کې لمنې په لاس ولاړوي چې کلک (لغړی) قپ کړي. لومړی لوبغاړی لغړی په جر تېرو بېرږدي او ډنډه ورلاندې کوي. د ډنډې په مرسته لغړی یو څه پاس ګزاروي او بیا یې ښه په زوره په ډنډې د مقابل ټیم خواته ورولي، د مقابل ټیم غړي هڅه کوي په لاسونو یا لمنې لغړي ونیسي او که یې ونیوه، نو د لغړي ویشتونکی لوبغاړی سوځي او که یې و نه شو نیول، نو بیا یې بیرته د جرخواته ورګوزاروي. که لغړی نږدې د جرخواته ولویږي، د (ډی) یا ډنډې د اوږدوالی په اندازه ولویږی او په ډنډه یې دفاع ونه شي ، نو ددې ډلې داغړی سوزیږی . او پر ځای یې بل راځي خو که کلکی (لغړی) له جرنه لرې پریوځي او یا یې ډنډه په لاس لوبغاړی په ډنډه لرې وشړي، نو بیا ډ سې

لرونکی لوبغاړی کولای شي چې دری واری نور هم کلکی په ډډ ووهي او له کوتی (جر) نه یې لری وشړي. په دریم وار چې هر څومره لرې لاړو، بیا دا ډله له هغې ځایه په همدې ډنډې یا دی دا واټن اندازه کوي چې هره ډډی اندازه یې حسابیږي. هر څومره چې شمیروي دا ټول په یاد ساتي. او بیرته بیا په همدی ترتیب لو به مخکې ځي. کله چې دا تن وسوځیږي په ترتیب ددی ډلی غړی یو په بل پسی راځی او چې هر څومره شمیری یې جوړی کړی میرنورور زیاتیږی لکه چې د لومړی ډلی ټول غړی وسوځیږي ددویمی ډلی غړی ډلی (ډنډه) اخلی اولو به پیل کوی . په آخر کې د دواړو ډلو جوړې کړی شمیری سره پر تله کوی. چې د هر ډلی شمیری زیا تی وی هماغه د لوبې گټونکی شمیرل کیږي.

رسۍ کشول:

دا دماشومانو یوه داسې لوبه ده چې د دوه ډلو ترمنځ تر سره کیږي او په هغې کې د ماشومانو غښتلتیا او زور آزمویل کیږی.

لومړي ماشومان او تنکي زلمیان د لوبو کولو ډگر (میدان) ته راځي او په دوه ډلو ویشل کیږي. په لومړی سر کې دوه کسه میران یا مشران ټاکل کیږي. او بیا نور همزولي په خپل منځ کې سره بډه کیږي، او بل کس د بل میر په ډله کې شاملیږي. کله چې د هر میر کسان پوره شول، نو بیا د لوبې میران یوه غټ رسۍ پیدا کوي .چې په پخوا وختو کې به یې دغه پیړی له څادر ونو څخه تاووله. مگر اوس یې له سنډ و څخه جوړه شوې رسۍ باندې لو به تر سره کوي.

رسۍ د لوبې په میدان کې اوږده غزوي او د لوبې په میدان کې یوه

مستقیمه (سیخه) کربنه و باسي. چې یو مشر لوبې کوونکی په د کربنې یوې خواته، او بل به یې بلې خواته دریږي. او اوږده شوې رسۍ به دواړه ډلې په خپلو منګلولو کې کلکه نېسي، د دواړو لوبډلو تر منځ به یو داسې کس چې مشروي، ولاړوي او د لوبې د پیلیدو اعلان به کوي. همدا چې منځګړی وویل: یو، دوه، درې... لوبه پیلیږي، دواړه ډلې په زوره رسۍ د خپل لوري په خوا راکشوي او هڅه کوي، مخالف لوری د ځان خواته راوکاږي. منځګړی به پوره دقت څیروي چې کومه خوا ز وروره کیږي. که د هرې ډلې لومړی ګډون کوونکی له تاکلې کربنې څخه را تیرشو. نو له لوبې څخه ځي او هلته کیني پاتې ډله به رسۍ کشوي تر دې چې وروستی ګډون کوونکی هم له کربنې څخه را تېرشي. او ګټونکې ډله بریالۍ اعلان شي.

چندرۍ:

چندرۍ هغه لوبه ده چې ماشومان یې زیاتره د ژمي په موسم کې په کلیو کې کوي. پدغه لوبه کې له دوونه تر دریو ماشومانو برخه اخلي.

خپله «چندرۍ» هغه هواره او ګرده تیګه ده چې د نسوار و دډبلي د سر په اندازه وي. او پدغه لوبه کې ماشومان کارترې اخلي.

ماشومان لمړی د یوه اوږده مستطیل په شکل د مځکې پر مخ کربنې باسي او بیا یې په څوبر خو ویشي چې کټ مټ یې شکل د لرګیو زینې ته ورته وي. او هرې برخې ته یې «خانه» یا کور وایي. او بیا هر کور ځان ته نوم لري چې له ښکته نه پورته پدې ډول وي:

لمړی خانه، دو همه خانه، تنګړیچ، دمه، کمکی توپ، لوی توپ او له هغه اخو «سرې صحرا» لومړی یو ماشوم د تیګې چندرۍ په لومړۍ خانه

کې اچوي او بیا په یوه پښه هغه له دغې خانې را باسي ، بیا یې په دوهمه خانه کې اچوي او په یوه پښه ورځي او راباسي یې. بیا یې په « تنګریچ » کې اچوي . خو له تنګریچ نه ایستل یې ګران وي. ځکه تنګریچ ډیر تنګ یعنی د یوه پل په اندازه وي. که چیرې د چندرۍ د ایستلو په وخت کې د چندرۍ وهونکي پښه په کوم خط ولګیده نو بیا وایې چې وسوځیده او بیا د بل ماشوم نوبت کیږي.

له تنګریچ نه وروسته بیا چندرۍ په « دمه ځای » کې اچوي او په یوه پښه ورځي او په دمه کې کولای شي په دواړو پښو ودریږي او دمه جوړه کړي. له هغه وروسته یې بیا په « کم توپ » کې اچوي او په یوه پښه ورځي او په یوه پښه یې راباسي چې باید چندرۍ به تنګریچ کې او یا د کوم خط په سرونه لویږي که ولوید ماشوم سوځیدلی دئ. له هغه وروسته یې بیا په لوی توپ کې اچوي او په هماغه ډول یې په یوه پښه راباسي.

تر هغه وروسته یې په سرۍ صحرا کې اچوي. په یوه پښه ورځي او باید له « لوی توپ » نه هم ګام واچوي او هم باید چندرۍ پکې ونه لویږي، که چیرې د چندرۍ دراایستو په وخت کې چندرۍ په تنګریچ کې ولویده، نو لوبه « توی درې » بعنی هر څه له منځه تللي، او باید لوبه له سره له لمړۍ خانې پیل کړي. او که نه د سرۍ صحرا په وهلو سره لوبغاړی ګټونکی حسابیږي.

غومبۍ غومبۍ:

دا په کلیو کې د ماشومانو یوه داسې لوبه ده ،چې اکثراً په پسرلي او اوړي کې تر سره کیږي. لومړی لوبې کوونکي ماشومان په دوه ډلو ویشل

کیږي چې شمیر یې پینځو پینځو او یا زیاتو ماشومانو ته رسیږي.

دا ماشومان هڅه کوي پاکه شګه پیدا کړي، او بیا خپلې لمنې ورڅخه ډکوي وروسته د هرې ډلې ماشوم یو پټ ځای پیدا کوي او هلته د شګو کوټه (غومبۍ) جوړوي. خوداسې چې هغه نور ملګري یې و نه شي لیدای.

وروسته بیا د دواړو ډلو ترمنځ غږ کیږي چې ورانول پیل شول. دواړه ډلې هڅه کوي د بلې ډلې جوړې کړې کوټې (غومبۍ) ورانې کړي، ماشومان باید دومره هوښیار وي چې د خپلې ډلې جوړې کړې غومبۍ وپیژني او ورانې یې نه کړي. همدا چې دواړه ډلې مطمئنې شوې، چې نورنو غومبۍ نه دي پاتې، بیانو د پټوشویو غومبیو په شمار لوپیل کوي. هر څوک؟ لومړی د خپلې غومبۍ نښه وایي او بیا به یې ښیي، په پای کې چې د هرې ډلې پاتې شوې غومبۍ ډیرې وختې، د هغو د شمیر په اندازه به مخامخ ډلې ته وریه شاد کیږي. او د مخامخ ډلې (چې لوبه یې بایللې ده) غړي به دوی ته چکرورکوي.

دا لوبه معمولاً د غرونو په لمنو او داسې ډاګونو کې ترسره کیږي چې پاکه شګه اوریګ هلته موجود وي.

خوسی:

دا به یوازې د هلکانو ترمنځه کیږي، چې د لوبې د ځای لپاره یو هوار میدان ټاکي. هلکان په دوه لوب ډلو وېشل کیږي چې دوه تنه تکړه یې میران ټاکل کیږي او نوریې سره رامنې. هر څوک چې د هرې ډلې ورسیده، په همغې کې دریږي.

دا چې په دې لوبه کې یو بل ته لاس اچول کیږي، او د هغه د پرځولو

کوشش کیږي؛ نو معمولاً هلکان خپل کمیسونه باسي چې د لاس اچولو په وخت کې خبري نه شي. او همدا رنګه په آسانۍ ونه نیول شي. دوی په میدان کې تر وچې لمدې یا شېر او خط وروسته دوه ډلې کیږي. چې یوه ډله یې د (ټوپۍ) یا د خاورو د ډېرۍ ساتنه کوي. او په بله ډله کې د (خوسۍ) په نوم هغه څوک وي چې هڅه کوي په دې ټوپۍ پښه کېږدي.

ټوپۍ له اوپړه خاورو څخه جوړ شوی ډېری وی چې د لوبې یوه ډله یې ساتنه کوي او څو تنه تری چاپېره یو پښه نیولي ولاړ وي.

په دې لوبه کې ټول هلکان معمولاً په یوه ښۍ پښه ګځلي. او چپه پښه یې په ښۍ لاس کلکه نیولي وي او په کیڼ لاس د نورو سره پرځونې کوي. هر کله چې د کوم لوبغاړي د ښی لاسه نه د هغه پښه خوشې شي، دی سوځیدلی حسابیږي.

په لوبه کې لومړۍ ډله د (ټوپۍ) ساتنه کوی. په دو همه ډله کې چې د ټوپۍ نه لرې ولاړه وی، یو هلک د (خوسۍ) په نوم نومول شوی وي. چې هغه دنده لری څو د نور، ملګرو په مرسته په ټوپۍ چې د بلې ډلې په واک کې ده پښه کېږدي. (ټوپۍ ووهي) د (خوسۍ) لپاره معمولاً داسې کسان ټاکل کیږي چې د خوسی په ځغاسته کې تر ټولو چابک او چټک وي.

دلو مړی ډلې لوبغاړی هڅه کوی چې ځانونه خوسۍ ته ورسوي. او هغه و سوزوی خود دوهمې ډلې لوبغاړی له خوسۍ نه کلکه ساتنه کوي او (خوسۍ) هم د خپلی ډلې د ملګرو شاته وي او کوشش کوي چې له یوې خوندي لارې ځان ټوپۍ (د خاورې ډېرې) ته چې د بلې ډلې په واک کې وي، ورسوی او هغه ووهي.

دواړه ډلې معمولاً د ځینو ځانګړو کلماتو پرویلو خپلې پښې نیسي،

تر دې وروسته که هر چا پښه له لاسه خوشې شي، سوی حسابېږي. د دواړو ډلو غړي معمولاً خپلو همغو هلکانو ته په پړخولو ورځي چې ورسره یې په پیل کې رامنلي وي. خو حق لري چې د خپلو ملګرو سره هم د نورو په پړخولو کې مرسته وکړي او یا نورو ته په پړ ځولو ورشي.

معمولاً خوسې د لوبې د ډېرو غړو تر سو ځیدو وروسته یا ټوپې وهي، او یا سوځول کیږي ځکه په لوړې سر کې دواړه ډلې د ټوپې او خوسې کلکه ساتنه کوي خو کله چې پر له پسې توګه وسوځیږي، نو مېدان کې یوازې خوسې او ځونور پاتې شي.

کله نا کله داسې (خوسې) هلکان چې په ځغاسته کې تکړه وي، په هماغه توده کې ځان په ډېره چابکۍ ټوپې ته رسوي، او په داسې حال کې چې نور به د یو بل په پړ ځو لواخته وي (خوسې) ټوپې وهي. او یا بر عکس د مقابل لوری کوم چابک لوبغاړی ځان په یوه لاره (خوسې) ته رسوي او هغه سوزوي.

کله چې یوه ډله وسوزیږي د (خوسې) او ټوپې ځایونه له یو بل سره بدلوي. بایله داوې چې که هرې ډلې پنځه ځلې ټوپې ووهله، نو له بلې ډلې څخه د واده په نوم یو هلک آخلې چې د واده ورونکی ډلې هلکان د خولې ډول وهي او چک چکې وهي. خو دا لوبې ډېر کمي دواده مرحلې ته رسیږي. او ډېر کله یو ډله هم نه توانیږي چې د لوبې تر پایه پنځه واری ټوپې ووهي.

دا لوبه په وړو سر ببره کله نا کله دلویانو او ځلمیانو لخوا هم کیږي. په لوبه کې کله نا کله وړو او کمزورو لوبغاړو ته اجازه ورکول کیږي چې د پښې پر ځای دې خپل غوږ ونیسي او په دواړو پښو دې منډې وهي. خو که غوږ یې خوشې کړ، سوی حسابیږي.

د نجونو لوبې

نانځکې او کورکاني:

دا د نجونو تر منځ هغه ذوقي لوبې دي چې تر ډېره بريده عاطفي او خورا صميمي لوبې هم ورته ويلي شو. نجونې له نانځکو ، رنګه، رنګه ټوټو غميو ، او نورو څيزونو سره خورا مينه لري. هر کله چې څلور پنځه کوچنۍ نجونې سره يو ځای شي ، هره يوه يې خپلې نانځکې او نور کوچني لوښي راوړي او په خپلو کې سره لوبې کوي، پخوا به يې نانځکې له ټوټو څخه جوړولې داسې چې د ټوټو يو پېډ وکی به يې جوړ کړ چې د غه پنډوکي به يې جوړ کړ او د تورو سنډو په ګندلو سره به يې په هغې سپينه ټوټه کې پوزه ، سترګې او خوله جوړه کړه چې دغه پندوکي ته به يې پوښ کړی و ، له هغه وروسته به يې له تاوکړو ټوټو څخه لاس ، پښې او ځان جوړ کړل چې وروسته به يې له زري او ښکلو تکو ټوټو څخه جامې او ټيکری هم ورته جوړ کړل ، خو اوس او س ډول ډول نانځکې پلورل کيږي او نجونې يې په لوبو کې شاملوي خو په کليو او بانډوکې اوس هم د ټوټو نانځکتې دود دي.

د لوبو پر مهال هره نجلۍ د يوې مور او د کور د مشرې تمثيل کوي هره نانځکه ځانته نوم لري: يوه غټه نانځکه مور وي او نورې لورګانې ، خويندې او واړه ماشومان، هر نجلۍ ځانته د ديوالونو خوانه د کور ځای جوړوي هغه پاکوي د ناستې کوټه، د ميلمنو کوټه او نور هرڅه معلوم وي. ګڼې نجونې له ختو څخه ديګي، کاسې ، پيالې او د کورنور لوښي هم جوړ وي. يوه وړوکې سپينه ټوټه د دسترخوان په توګه کاروي. کله چې کورونه چمتو شول، بيانو نجونې يو د بل کورته ميلمه ځي. کوچنۍ نجونې يا په

خپله د مور او مشرې رول لوبوي او یا هم کومې غتې نانځکې ته دا رول ورسپاري. کله چې نجونې یو له بل سره خبرې کوي، هڅه کوي د خپلو میندو او مشرانو په شان پخې او سنګینې خبرې وکړي.

د بیلګې په توګه دا دیالوګ وګورئ چې د نجونو د یوې لوبې له جریان څخه کټ مټ په ټیپ کې ثبت شوېدی:

- ټک ټک ټک (دروازه ټکوي)

- څوک یې دروازه خلاصه ده راځه (یوه نجلۍ چې په کور کې ده غږ کوي)

- شاه بي بي خورې په کور کې یې؟

- هو! وی کوربان دې شم ببو ګلې خورې راځه ایله په ایله...

- خورې ایوانان (ماشومان) مې ناجوړه وو او که نه تاوخته دې پوښتنې ته راتلم

- راځه خورې راځه دلته په دې کوټه کې به سره کینو...

او دا دیالوګونه هم داسې دوام کوي

په زړه پورې داده چې په دغو لوبو کې کله کله ورې نجونې خپلې نانځکې یو بل ته ورو روي، هغه نانځکه چې ګواکې ناوې وي، باید ښه زري کمیس او رنګه رنګه جامې ولري، ټول هغه مراسم چې کوچنیو نجونو په ودنو یا کوژدو کې لیدلي وي، دلته هم تر سره کېږي. نجونې رنګارنګ ټوټې سره یوځای کوي او د ناوې جامې ورڅخه جوړ وي، کوچنۍ نجونې یا په ورو چمبو (دایرو) یا پتنوس او یا هم دډېګي په سر پوښ، دایره وهي او په ورو ورو ژبو سندرې وایي. (آهسته برو) سندره د کوچنیو ماشومانو زده وي او کله کله ښکلې ټپې هم ورسره یوځای کوي.

نتیجه:

ناڅکې او کورکاني له کورني ژوند سره د کوچنیو نجونو د عادت کولو او بلد يدو تر ټولو جدي مشق او تمرين ګڼل کيږي. نجونې له همدې لوبو څخه زده کوي چې په خپلو منځو کې څه ډول خبرې وکړي، د کور چارې څه ډول سمبال کړي، ماشومان څنګه وروزي او د کور کلي دود دستور څنګه تر سره کړي؟

له بلې خوا دغه لوبې د خياطي، کور ساتلو او د جامو په تنظيم کې د کوچنيو نجونو لومړني تمرينونه دي، چې د نجونو په روزنه کې خورا ډېر مهم ګڼل کيداي شي.

جز لوبه (لشپ اچول):

دا د کوچنيو نجونو لوبه ده چې له دوو څخه زياتې نجونې سره يوځای کيږي او ډېره معموله لوبه ده. لومړی کوچنۍ نجونې په سکرو، تباشير يا کودوړي باندې پر ځمکه يو جدول رسموي چې هر کورګی يې له نيم متر څخه نيولې تر يو متر پورې بروسور ولري، هر کورګی نوم لري، او له لومړني کورګي څخه په يو، دوه درې، څلور... پيل کيږي او تر لسو کورګيو پورې لري. وروسته د لاس درغوي په اندازه يوه ښويه تيګه لوشپ (لشپ) په نامه ټاکي او نجونې د لومړي، دوهم او دريم... نوبت د ويشلو لپاره د وچې او لمدې پچه اچوي چې هره نجلۍ خپل وار (نوبت) له ځان سره ياد داشت اخلي.

لوبه داسې پيل کيږي چې لومړی بايد لشپ په اول کورګي کې واچول شي او د يوې پښې په ټوکه په داسې حال کې چې بله پښه به يې له ځمکې

پاس نیولې وي مخ وړاندې د بل کورګي په خوا ورتیل وهي تر دې چې له ټولو کورګیو څخه یې وباسي او بیا به یې له لرې دوهمې او دریيمې خانې (کورګي) ته وراچوي او حلقه یي لوبه، به تر سره کوي.

لوبغاړې په دغو صورتونو کې سوځي:

۱- که د پښې په یوځل وهلو لشپ وړاندې ولاړنه شي. نو لوبغاړې سوځي.

۲- که لشپ له اصلي کورګي څخه واوړي یا بل کورګي ته او یا هم له جدول څخه بهر ووځي. نو بیا هم لوبغاړې سوځي.

۳- که د لوبغاړې پښه په کوم خط برابره شي، نو د هغې وارسوځي. که کومې نجلکۍ و کولای شي ټول ټاکلي مقررات بریالي تر سره کړي، بیا نوله کورګیو څخه په پټو سترګو او لشپ پر تندي تیریږي په دې صورت کې چې پښه یې په کرښه برابره نه شي. هر ځل چې نجلکۍ خپله پښه په کورګي کې ږدي غږ کوي:

«سیا» (سمه ده؟)

نورې لوبغاړې غږ کوي: سبا یعني سمه ده.

کله چې د لوبې د امر حله هم بشپړ شوه، نو دغې لوبغاړې به ګټلې ده او کولای شي یو کورګي مهر کړي، یعنې پوه نښه په کې کیږدي چې ددې په نامه شي.

د جزلوبې یا لشپ اچوونې لوبه د نجونو تر ټولو معموله لوبه ده چې د هغوی د ذکاوت، بدني ودې او دقت کولو د ځواک په پراختیا کې مرسته کولای شي.

پنجاق:

پنجاق دوړو نجونو هغه لوبه ده چې په پينځو دانو وړو تيږو تر سره کيږي. نجونې هڅه کوي ښکلې سپينې او ښويې تيږې (کاڼي) پيدا کړي او څرنگه چې دا لوبه منډې رامنډې نه غواړي، کيداي شي په ژمي کې د ننه په کوټه او په اوړي کې دونو سيوري ته هم تر سره شي.

لوبه داسې پيل کيږي چې اول هغه نجلکۍ چې لومړی وار ورسيدلای وي. پينځه واړه تيږې پاس اچوی او خپل لاس په چپه اړوي او د پنجنې په شا باندې پاس اچول شوې تيږې قپوي. او بيا يې په رغوي کې رانيسي. هغه تيږې چې په ځمکه رالويږي هغه يوه يوه راټولوي داسې ، چې يوه تيږه پورته اچول کيږي هغه تيږه لا په هوا کې وي، چې له ځمکې څخه يوه تيږه را اوچتيږي او بيا هغه تيږه چې په هوا کې وه ، ورسره يوځای په موټي کې نيوله کيږي، چې دې ته «اولبک » وايي.

وروسته بيا تيږې پر ځمکې باندې کوليږي او يوه يوه يې راټوليږي. چې ورته (يوه دانه) وايي بيا دوه دوه دانې جوړه پر ځمکې کېښول کيږي، او دوه دوه راپورته کيږی چې ورته (دوه دانې) وايي. همداسې درې په يوه خوا او يوه په بله خوا چې (درې دانې) ورته وايي. او بيا څلور په ځمکې يوه هوا ته پورته اچول چې (څلور دانې) ورته وايي.

تر دې وروسته څلور تيږې پر ځمکه داسې کيښول کيږي، لومړی يې يوه دانه راپورته کيږي چې يوه دانه هوا ته پورته اچول کيږي بيا همدا راجگه شوې تيږه له بلې سره بدليږي ، همداسې څلور واړه دانې د يوې بلې دانې په پاس اچولو سره بدليږي، چې ورته « بدلون »وايي، بيا يوه دانه جگه اچوي او په هوا کې يې قپوي چې دې ته اشاره وايي.

بیانو کیڼ لاس پر ځمکه داسې ږدی، چې گوتې یې پر ځمکه اوسي بیانو د دوو گوتو تر منځ په خالي ځاي کې یوه تیږه کیښودل کیږي چې په ښي لاس یوه تیږه پورته اچول کیږي او څلور واړه دانې سره را ټولیږي ټولې پاس اچول کیږي او بیا هو ځایو یي په موټي کې نیول کیږي. چې دې ته (گوتمۍ) ویل کیږي. بل ځل کیڼ لاس داسې پر ځمکې ږدي چې څلور گوتې سره نښتې او یوه یې بیله نیول کیږي. چې د غره بڼه ځانته غوره کوي، داسې چې د څلورو گوتو او غټې گوتې تر منځ خالي ځای له ځمکې څخه پاس دومره وي چې د لوبو تیږه ورڅخه په آسانۍ سره تیره شي. بیانو په هو ځانگړي حرکت د ښي لاس په گوتو د کیڼ لاس له شا څخه تیږي تیروي او بیا یوه یوه را پورته کوي او بلې لوبغاړې ته وایي چې یوه په کې خوښه کړي، چې هماغه خوښه کړې تیږه «سپي» بولي بیا نو هره تیږه هوا ته اچوی او له کین لاس څخه یې داسې تیروي چې په «سپي» تماس ونه کړي. کله چې ټولې دانې خلاصی شوې، په پاي کې د سپي وار رارسیږي چې هغه هم په یوه گوزارد گوتو له فاصلې څخه تیریږي.

هرې لوبغاړي چې دا ټولې مرحلې په بریالیتوب سره تر سره کړې، د لوبې گټونکې گڼل کیږي.

ددې لوبې ځینې ځانگړي نومونه او اصطلاحات دادي:

(پشت دست، تاله گک، دودو قو، سه قو، چهار چهار قو... ژاله گک اشاره، دسترخوانک، چوچه کش، بندنک و ازک، سگک، څلوردانې، بدلون گوتمۍ، غر، اولیک، یکک، دوکک.... پنج کک، دان وازک، دان تلک، بیتروک.) او نور.

څلورمه برخه:

اړونه (چیستان) - متلونه، ټوکې او د ماشومانو په روزنه کې د هغو ونډه

ماشومان کله کله داسې بوختیا وې لري چې تر ډېره د ذهني مسابقو بڼه لري او د تفریح او ساعتیرۍ لپاره پرې بوختېږي. په پښتو کې اړونه هغه ذهني پوښتنې دي چې د معمٰی ګانو او پوښتنو په شان مطرح کیږي ځینې مهال ماشومان د متلونو په هکله هم خپلو کې سره سپالي کوي او یو بل ته هغه دود سوي متلونه تیروي چې له لویانو یې اوریدلي وي. او کله هم په خپلو کې سره ټوکې کوي او هر څوک یوه یوه داسې ټوګه وایې، چې ټول ماشومان وخندوي. موږ به هڅه وکړو، چې دلته هره برخه بیله بیله معرفي کړو او بیلګې یې ورسره یو ځای راوړو.

۱ - اړونه (چیستانونه):

۱ - لکه څرنګه چې وړاندې مو هم وویل، اړونه هغه مشهورې معماګانې دي چې د یوه ماشوم له خوا د نښو په ویلو سره مطرح کیږي او نور اوریدونکي د نښوله مخې پرې فکر کوي چې د هغه نوم پیدا کړي. اړونو ته په پښتو کې (کیسۍ) او (ټکونه) هم وایي. په دری کې یې (چیست آن) یا چیستان بولي او په عربي کې ورته (لغز) وایي.

اړونه په منظومه او منثوره توګه دود دي. او شرط یې دادی چې د غوښتل شوي نوم نښې به په لنډه او ښکاره بڼه ویل کیږي چې نور ماشومان د همدې نښوله مخې غوښتل شوی نوم پیدا کړي، د بېلګې په توګه یو ماشوم وایي:

دا څه شی دی؟

دورځې ګرځي چې د شپې راشي د یوې پیسې ځای ونیسي. نور ماشومان په دې فکر کوي ددې اړ نښې دوه دي، یو دا چې دورځې ګرځي او بل دا چې د شپې د یوې پیسې ځای نیسي، او هوښیار ماشومان په څو شیبو کې ځواب پیدا کوي او وایي دا (لکړه) ده. ځکه لکړه ټوله ورځ ګرځي او د شپې همدا چې د یواله ته یې ودروې د یوې پیسې ځای نیسي.

اړونه د ماشومانو د ذهني آزموینې، فکري ودې او چاپیریال پیژندنې تر ټولو جدي مرستندویان دي .د یوه اړ د ځواب موندلو لپاره ماشوم په خپل فکر او حافظې تر هغه بریده فشار راوړي چې ځواب و مومي او دا د حافظې د ډېر ښه ورزش بللی شو. څرنګه چې اړونه په ټولنې کې د ورځنیو وسایلو په اړه ډېر مطرح کیږي او د شفاهي فولکلوریکو معما ګانو حیثیت لري، د ماشومان په نړۍ لید پراخولو او دود دستور پیژندلو کې هم مرسته کوي.

د اړونو څو بیلګې چې ځوابونه یې په آخر صفحه کې راغلې دي:

دا څه شي دی؟

١ - دورځې ګرځي چې د شیبې راشي وازه خوله ونیسي؟

٢ - دا څه شي دی؟

دی حلال دی، خو رنګ یې د مردار دی.

٣- دا څه شی دی:

د ورځې ګرځي ګرځي چې د شپې راشي يوه پولۍ اغزي په ځان راواړوي؟

٤- دا څه شی دی:

وړوکی تنورګی له لالونه ډک.

٥- دا څه شي دی:

مړ له قبره پاڅيږي، ژوندی له غاړې ونيسي.

٦- دا څه شی دی:

له پاسه راغلل دوه سيندونه ورته يې ونيول پنځه بيلونه؟

٧- دا څه شی دی:

سور کندوګک، له اوړونه ډک، په منځ کې يې تمبه ده، زما يوه ګوله ده؟

٨- دا څه شی دی:

سل خولې لري نه ګيډه نه کولمې لري؟

٩- دا څه شی دی:

دوه ومه په درې شومه، لرې ومرا نږدې شومه

دا څه شی دی:

١٠- له خولې غور ځوی توري وينې، چاودلی يې د زړه سردی، عالم يې مسخر دی.

١١- دا څه شی دی:

یوه لویشت یې قدد ی په آس ز وروور د ی.

١٢- دا څه شی د ی:

په سپین کې تور د ی په تور کې نور د ی سر پری سیور د ی.

١٣- دا څه شی د ی:

شګور له پولوډ ک او څو ک یې نه خوري.

١٤- دا څه شی د ی:

شپږ یې پونډۍ دي لکۍ لري په ملا کې دوه یې دي پښې ژوند لري هوا کې.

١٥- دا څه شی د ی:

وزریې د مرغه سریې د پیل له رنګه تور د ی کچکو وریاندې سپور د ی.

١٦- دا څه شی د ی:

خوري خوري خو مړیدل نشته، ګرځی ګرځي لویدل یې نشته.

١٧- دا څه شی د ی:

سور ځنځیر په ځمکه ځیر.

١٨- دا څه شی د ی:

اور وینم او بو کې او به وینم په اور کې.

١٩- دا به څه شی وي:

پاس په ډېران کې اور ولګیده، کوزې د کوهۍ او به ترخې شوې، جوړې خړې لنډ ورې شوې.

٢٠- دا څه شی د ی:

په یوه سوړه کې دوه یرش غله نتلي دي، هر چا د سپین سبا غوندې

لیدلي دي.

۲۱- دا به څه شی وي:

چې ځي خاندي چې بیرته راځي ژاړي.

۲۲- دا څه شی دی:

لمونځ شته اذان یې نشته.

۲۳- دا څه شی دی:

د یوې کټوې دوه ډوله مستې په سرو غوښنوکې پخې.

۲۴- دا څه شی دی:

بابا د ننه، ږیره یې بید یا ده، عجبه تماشا ده.

۲۵- دا څه شی دی:

د سروزرو شپیلۍ ده د وولس بنده، هر بندیې لري څلور پیونده.

۲۶- دا څه شی دی:

چې ځم را سره ځي، چې کینم را سره کیني، چې ودریږم دریږي هیڅ نه رانه بیلیږي.

۲۷- دا څه شی دی:

وړوکي هیندوگی، اوږدیې دی پتکی.

۲۸- دا څه شی دی:

یو دی خو په سل سترگو ژړا کوي، نه خوراک او نه خندا کوي.

۲۹- دا څه شی دی:

د هیو کو کوتنۍ ده، په کې ناسته لیونۍ ده.

٣٠- دا څه شی دی:

څلور یې پښې بې شماره یې کولمې.

٣١- دا څه شی دی:

زرغشي يې خوړلي خو ژوندی دی، دا څرنګه شي دي.

متلونه:

متلونه د انساني تاريخ او بشري ژوند په اوږدوکې د خلکو د فکري تجربو په نتيجه کې هغه رامنځ ته شوې لنډې جملې (وجيزې) دي چې په لنډو ټکو کې لوی مفهوم بيانوي.

د انسانانو په منځ کې له ډېر پخوا څخه متلونه ويل کيږي، متلونه هغه مهال کاريږي، چې څوک د خبرو پر مهال وغواړي خپله وينا اوريدونکو ته ثابته کړي ځکه نو د استناد لپاره يو متل وايي.

مثلاً که څوک په دې هکله خبرې کوي چې: «په مجلس کې بايد هر چا ته وار ورکړل شي چې خبرې وکړي او موږ بايدد ټولو حاضرينو خبرې و اورو. ددې لپاره چې هر څوک د خبرکولو حق لري»

نو ددغو جملو ويونکی دغه متل کاروي:

«ژرنده که د پلار ده هم په وار ده»

او ددی متل په اوريدو سره ټول حاضرين د خبرې کوونکي کس وينا مني.

متلونه معمولاً لنډ او آهنګين وي او د ښکلو کلماتو په وسيله مطرح کيږي.

او تر ډېره بريده د سپين ږيرو جرګه مارو او پخو کسانو ډېر متلونه

اوپخې خبرې زده وي. خو دا يوازې لويان او سپين ږيري نه دي چې له متلونو څخه کار اخلي، بلکې ماشومان هم د هر ځله د ژمي په شپو کې د تاوخانو په توده هوا کې د متلونو په ويلو سره خپلې حافظې آزمويي، ماشومان گرد سره کيني او هر يو يو متل وايي او له هر چاسره چې متلونو زيرمه ډيره ده يعنې ډير متلونه يې زده وو د غونډې بريالي گڼل کيږي.

متلونه د ماشومانو لپاره ښه سبق گڼل کيږي. دوی د لويانو او تېرو نسلونو ډېرې خبرې د متلونو له لارې زده کوي او په دې پوهيږي چې دلو يانو له تجربو څخه څرنگه گټه واخلي مثلاً ماشومان کله چې د يو کار په کولو پيل کوي، نو که کوم متل ور په ياد شي کيدای شي، د هغه کار ښه او بد اړخونه وارزوي او بيا وروسته يې تر سره کولو ته ملاوتړي. د بيلگې په توگه يو ماشوم غواړي د خپل پلار ښکاري ټوپک راکوزکړي او ويې گوري نو ناڅاپه يې دا متل ورپه ياديږي:

«چې نه کار هلته دې څه کار»

ځکه نو د پلار ټوپک پريږدي او له ځانه سره فکر کوي چې رښتيا هم دی له ټوپک سره د لوبو لپاره نه دی جوړ او کيدای شي په ټوپک خپل ځان ژوبل کړي. متلونه ماشومان دې ته چمتو کوي، چې پخې او کارې خبرې زده کړي او يو مهال وکړای شي د لويانو په مجلسونو کې خبرې وکړي، د متلونو کارول د ماشومانو په فصاحت او بلاغت کې ونډه لري، متلونه ماشومان لهنويو ژبنيو مفاهيمو، ترکيبونو او جمله جوړونې سره بلدوي. او کولای شي د خپلو خبرو دا ثبات لپاره له متلونو څخه گټه واخلي. همداراز متلونه د ماشوم د جهانبيني (نړۍ ليد) په پراخولو کې مرسته کوي، ځکه ماشوم د

متلونو له لارې ستر بشري مناسبات په لنډه او آسانه توګه تجربه کولای شي. دلته به د بېلګې په توګه څو مشهور متلونه راوړو، چې د ماشومانو له خوا د متل ویلو په مجالسو کې ویل کېږي:

١ - بدعادت چې زورور شي، عقل مرور شي.

٢ - بدمه را سره کوه، ښه دې نه غواړم.

٣ - بدمه کوه، بد به نه وینې.

٤ - اوزه چې پر با م وخېژي، لیوه ته هم ښکنځل کوي.

٥ - بنیادم بې وزره مرغه دی.

٦ - تشه لاسه، ته مې دښمن یې.

٧ - له یوه لاسه، غږ نه خېږي.

٨ - خپله ژبه هم کلا ده هم بلا.

٩ - که ته ووایې زه یم، او زه ووایم زه یم، نه به ته یې او نه به زه یم. که زه ووایم چې ته یې او ته واوېې چې ته یې، هم به ته یې، هم به زه یم.

١٠ - بې چرګه به هم سبا شي.

١١ - بنده اریان، خدای مهربان.

١٢ - نورې به لا لا وهي، مړی به عبدالله وهي

١٣ - تیر په هېر.

١٤ - تورې چرګې سپینې هګۍ.

١٥ - جنګ سوړ شو، میړی تود شو.

١٦ - ښښتن په سپي حکم وکړ، سپي پر لکۍ.

١٧ - ژرنده که د پلار ده هم په وار ده.

۱۸- جاهل ته دوه ځله سلام اچوه.

۱۹- خپله لاسه ګله لاسه!

۲۰- خپله لور تر پردي زویه ښه ده.

۲۱- اول زده کړه، بیا کوزده کړه.

۲۲- شغال پر نعمت شکر ایسته، چرګ یې تر خولې ووت.

۲۳- چرګ چې ځوان شي، پر بام ورو ورو ځي.

۲٤- د ګوډي لار په ژرنده ده.

۲۵- څه ژرنده پخه، څه غنم لامده.

۲٦- د غله ځای په غره کې نشته.

۲۷- دایي ډول دایې ژرنده.

۲۸- له بارانه تښتیدم، له ناوې لاندې مې شپه شوه.

۲۸- له رویو تښتیدم، په سړي خورو واښتم.

۲۹- د بل په دستر خوان، سل میلمانه هیڅ دي.

۳۰- له بې کاره، خدای (ج) بې زاره.

۳۱- د پشي منډه تر کادانې پورې وي.

۳۲- لاس چې مات شي غاړې ته لوېږي.

۳۳- له پیښې څخه تیښته نشته.

۳٤- د تبر خوله لیمخې نیولې ده.

۳۵- له تش ټوپکه دوه کسه ډاریږي.

۳٦- له تخته که ولویږم، له ځمکې خونه لویږم.

۳۷- له جنګه زه راغلم، غوږې ته کوې.

۳۸ - له تشه ډاګه به سیلۍ څه یوسي.

۳۹ - د ځواني یوه نیشه وي، هسې نه چې همیشه وي.

۴۰ - په ځواني کې بیکاري، د سپینږیر توب خواري ده.

۴۱ - له خوارۍ ژرنده ګرځوي. له کبره مزد نه اخلي.

۴۲ - د ډنډا و به، چې ډیرې ودریږي، خوساکیږي.

۴۳ - چې ډول ډې تر څنګ دی، له وهلو یې څه ننګ دي.

۴۴ - غر که هر څومره لوړ وي پر سر لار لري.

۴۵ - دروغ د ایمان زوال دي.

۴۶ - سپینه اور ول کا، توره وېرول کا.

۴۷ - سترګې په بڼو نه درنیږي.

۴۸ - سترګې له سترګو شرمیږي.

۴۹ - سخ د هغه چا، چې غم یې په بل چا.

۵۰ - سل دې ومره، د سلو سر دې مه مره.

ټوکې ټکالې:

ټوکې د ماشومانو د مجلسونو یوه په زړه پورې بوختیا ده، کله کله چې څلور پینځه یا زیات ماشومان سره یو ځای شي او په تېره بیا د ژمي په اوږدو شپو کې سره مجلس جوړ کړي، نو په خپلو منځو کې ټوکې وایي، . داسې چې ماشومان ګرد سره کیني او هر یو په خپل وار یوه یوه ټوکه وایي او نور ورته خاندي. په داسې مجلسونو کې که هر چانوې او خوندورې ټوکې وویلې، نو د نورو همزولو شاباسی ګټي.

ټوکې د ماشومانو د طبیعې په ظرافت کې پر اختیار اولي او معمولاً

هغه څوک چې په خبروکې له ټوکو او طنز څخه کار اخلي، خبرې یې جالبه او زړه راکښونکې وي.

طنز او ټوکې په ټولنه کې د انتقاد او پند لپاره ډېرې ګټورې وي. د ګڼو ټوکو کرکټرونه ډېر ساده او یا هم ډېر هوښیاروي او هر کله چې غیر عادي او فوق العاده چاره تر سره کړي نو د خندا وړوي.

هوښیار ماشومان له ټوکه څخه د از ده کوي، چې څنګه ځان د خلکو له خندا څخه وژغوري. دروغ ونه وایي، لا پې ونه وهي او د هوښیارانو په شان خپلې چارې پر مخ یوسي.

له بلې خوا کله چې ماشومان په یوه مجلس کې ټوکه وایي او نور خندوي، نو د همزولو او یالو یانو له خوا هڅول کیږي. له دې امله ماشوم جرئت پیدا کوي او دوې احساس کوي، چې نور د ده خبرې اوري او ورته په زړه پورې دي، ټوکې ویل د ماشوم ظریف ذوق روزي، او په فصاحت او بلاغت کې یې مرسته کوي.

ټوکې ویل او ټوکې اوریدل ماشوم له یوازیتوب، رواني فشارونو او انزوا څخه ساتي. ماشوم د خوشالۍ احساس کوي او هر کله چې ماشوم له خپګان څخه لرې وي او وخت یې په خندا او خوشالۍ تېرشي، ښه وده کوي او راتلونکې شخصیت یې سالم او بې عیبه وي. د ماشومانو ځینې اروا پوهان کله چې په رواني خپګان (دیپریشن) اخته ماشومان تر درملنې لاندې نیسي، نو ګوري چې داسې ماشومان منزوي (ګوشه ګیر) بې جرئته، ډارن او تل خپه وي. ددې لپاره چې داسې ماشومان ښه شي، نو اروا پوهان یې له کورنۍ او همزولو څخه هیله کوي، چې د داسې ماشوم د خوشالۍ او

هوسا ، ساتلو لپاره له هغه سره مجلس وکړي ، ټوکې ورته ووايي ، ویې خندوي او دی په خپله وهڅوي چې ټوکې ټکالې زده کړي او بیا یې همزولو ته واوروي. نو له دې هر څه نه ښکاري چې ټوکې ټکالې د ماشومانو په خوشاله ساتلو کې ډېره ونډه لري.

د ماشومانو لپاره باید سالمې، په زړه پورې او ساده ټوکې وویل شي چې هم یې وخندوي او هم ورڅخه زده کړه وکړي او پند واخلي .

موږ به دلته د ماشومانو لپاره د ټوکو څو بیلګې راوړو :

غل او غریب:

وايي چې د یوه غریب سړي کورته د شپې غل ورغی ، کور به پرې راویښ شو ، ویې لیدل چې غل دی نو پرې غږ یې وکړ: چې موږ په دې کور کې د ورځې څه نه شو پیدا کولای ته به د شپې په تیاره کې څه پیدا کړې ؟

***

ماهم نه ده لیدلې:

یو سړی چا ته په تعجب سره وویل چې تا یو خروار هندوانه لیدلې ده ؟

هغه ورته وویل چې نه!

ده ورته وویل: ما هم نه ده لیدلې.

***

روژه که زردالو:

یو سړي په روژه کې زردالو خوړل ، بل ورته وویل: ولې روژه خورې ؟ ده ورته وویل . مګر ته ړوند یې نه وینې چې زه روژه نه خورم ،بلکې زردآلو خورم.

***

سوالګر او سګرټ:

یوه سوالګر له یوه لاروي څخه د پیسو غوښتنه وکړه. لاروي ورته وویل پیسې نه لرم مګر آیا سګرټ څکوې؟

سوالګر ورته وویل: هو، څکوم یې.

لاروي ورته وویل: نو یو سګرټ خوراکړه چې ویې څکم.

***

لاپې:

یو سړي لاپې وهلې چې دی د نړۍ ټول حیوانات پېژندني او د حیواناتو متخصص دی. نو بل سړي ورته وویل: چې دومره پوه سړی یې نو راته ووایه چې خر څه ډول حیوان دی؟

لاپوک ورته وویل:

خر خو داسې حیوان دی چې د اوښ په څېر دوه غټ غټ ښکرونه لري.

***

او به هم راوړه:

یو ماشوم ژړل او له خپلې مور نه یې اوبه غوښتلې. مورې چې داوړو په لمدولو بوخته وه، په قهر یې وویل: غلی شه کنه اوس به درسټې لرګی راوړم او ښه به دې ووهم.

ماشوم ورته وویل خیر دی مورې چې لرګی راوړې نو او به هم درسره راوړه.

***

چرګ:

یو سړی د یو و یالې ترځنګ تېریده، ګوري چې یو هلک خپل چرګ په ویاله کې وینځي. هغه سړی چې بېرته له بلې خوا راوګرځیده، ګوري چې د هلک چرګ مړ دی او داورته ژاړي. سړي پوښتنه وکړه: واکم عقله! چرګ چاوینځلی چې تاوینځه په لوی لاس دی مړ کړ.

هلک وویل: په وینځلو مړ نشو په نښنیځلو کې مړ شو.

***

پیل او چرنګښه:

یو پیل او چونګښه سره ملګري شول او پرېکړه یې وکړه چې له کوم باغ څخه منې راغلا کړي. کله چې باغ ته ننوتل، پیل چونګښې ته وویل زما پر ډډه وخیژه او منې راوشکوه. چونګښې ورته وویل، داکار زه نه شم کولای راځه او ته زما په ملا وخیژه او منې راوشکوه. پیل ورسره ومنله او کله یې چې د چونګښې په ملا پښه کېښوده د چونګښې سترګې یې له سر څخه راووتې، پیل په ګیله ورته وویل:

هم منې درته راشکوم او هم سترګې را ته رډې رډې کوې؟

***

غوایان:

یو لیوني له بل څخه وپوښتل: که سیند اور واخلي نو کبان چیرته تښتي؟

بل لیوني ورته وویل: هی ساده، ښکاره خبره ده چې ونو ته خیژي.

لومړي لیوني ورته وویل: ساده خو ته یې، کبان خو څه غوایان نه دي چې ونو ته وخیژي.

***

د ښوونکي پوښتنې:

په یوه ښونځي کې یو ښوونکی نوی مقرر شوی و ، په لومړی ورځ کله، چې دولسم ټولګي ته ورغی ؛له یوه زده کونکي څخه یې پوښتنه وکړه:

- هلکه ته وو ایه چې د سومنات بت چامات کړ ؟

هلک حیران شو ، چې څه ووآیي ، ځواب ورکړ:

استاذه: زه خو پرون هم نه وم راغلی او هغه بل پرون هم نه وم راغلی والله که مامات کړې وي.

ښوونکی غوسه شو . چې دومره ټمبل هلک څنګه په دولسم ټولګي کې درس وایي. نو مخامخ یې د معارف وزیر ته تیلفون وکړ او تر روغبړ وروسته یې ورته وویل:

صاحبه زه د پلانکي ښوونځي په دولسم ټولګي کې له یوه زده کوونکي څخه پوښتنه کوم چې د سومنات بت چامات کړي، دی راته وایي: ما نه دی مات کړی ځکه زه پرون او تېره ورځ نه وم راغلي. زه نه پوهیږم چې دا څنګه تر دولسم ټولګي را رسېدلي دی. . .

وزیر په غوسه شو او ورته یې وویل:

ښاغلی ښونکی صاحب! زه نور نه پوهیږم بت چې هر چا مات کړی وی تاوان به یې ته ورکوې.

***

دوه او دوه څو کیږي:

یو سړی ډېر زیات وږی شوی و ، په دغې شیبې کې بل سړي ور څخه

پوښتنه وکړه چې کاکا دوه او دوه څو کیږي ، ده ورته بې له ځنډه ځواب ورکړ:

دوه او دوه څلور ډوډۍ کیږي.

***

د سګرټو کموالی:

د یوه سړي په خوله کې یو ډېر اوږد سګرټ و؛ چې اوږدوالی یې له یوه متره هم اوښته . بل سړي ورته وویل: چې ماما دا دومره اوږد سګرټ ولې څکوې؟ ده ورته په ځواب کې وویل: دا ځکه چې ډاکتر ماته ویلي چې دورځې یوازې یو سګرټ څکوه!

***

دوه ساده ګان:

یوه ساده له بل څخه پوښتنه وکړه: ته په کومه ورځ پیدا شوي یې ده ورته وویل د یکشنبې په ورځ ، او ته په کوم پیدا شوی یې ؟

لومړنی ساده ورته وویل: د جمعې په ورځ.

دوهم ساده وریورې وخندل چې دروغجنه، ولې دروغ وایې د جمعې په ورځ خو رخصتي وي.

پینځمه برخه:

د ماشومانو بوختیاوې (سرګرمۍ)

د ماشومانو لپاره ځینې داسې بوختیاوې هم شته چې کولای شي هم د ساعتیرۍ اولوبو په شان هغوی ته خوندورې وي، او هم د پوهې او زده کړې لپاره لومړني لوستونه وي.

هغه مهال چې ماشومان له کاغذ، قلم، کتاب او مجلې سره آشنا کیږي نوهڅه کوي ډېر څه زده کړي خو که مخامخ په لوستلو او لیکلو پیل وکړي. دا چاره به څه نا څه ستونزې ولري. له همدې ځایه ده چې د ښوونې اوروزنې ګڼ کار پوهان وړاندیز کوي، چې تر ښونځي مخکې باید ماشومان د زده کړې یوه بله ابتدایي مرحله (پړاو) تېر کړي. د زده کړې په دې پړاو کې ماشومان په ساده علمي تجربو، رسامۍ، د جدولونو پر حل، د حساب د ساده ځوابونو په موندلو او نورو داسې په زړه پورې بوختیا وو لاس پورې کوي. ځینې شعرونه له یاده کوي او کله کله معما ګانو ته ځوابونه وایي.

د ماشومانو داسې بوختیا وې په لاندنیو برخو وېشلای شو:

د متقاطع کلیمو جدولونه:

د ماشومانو لپاره د متقاطع کلیمو جدولونه د ساده معماګانو له مخې د نومونو او کلماتو پیدا کول دي، چې د ورکړل شوي جدول په ځانګړو خانو کې باید ولیکل شي.

یو شمیر مجلې چې د ماشومانو لپاره خپریږي د خپلو سرګرمیو په پاڼوکې داسې جدولونه خپروي چې که د ماشومانو له خوا حل شي، نو د مجلې له خوا ګټونکي حل کوونکي ته جایزه هم ورکول کیږي.

دې ډول جدولونو ته ځکه د متقاطع کلیمو جدولونه وایي، چې په هغه کې د کلیمو حرفونه یو له بله سره داسې واقع شي چې له دوو خوا ویې په لوستلو سره د یوې یوې کلیمې اجزا جوړوي.

له ښي لاسه چپ لاس ته د کلیمو کتار ته (افقي) ردیف وایي او له پاسه کوز لوري ته د کلیمو کتار (عمودي) ردیف بولي. ټول ردیفونه د جدل په سراو ښي اړخ کې د ورکړل شویو شمیر وله مخې پیژندل کیږي.

ځینې مهال د کلیمو د بیلو لو لپاره په جدول کې یو شمیر توري خانې هم شاملیږي چې په هغو کې بیا توري نه لیکل کیږي.

د متقاطع کلیمو د جدولو د حل کولو لپاره باید له کلیماتو سره لوبې وشي او هغه معماګانې چې په لومړي سر کې سړی حیرانوي خو که ښه ورته ځیرشي، څو مماثلې کلیمې وارزوي، نو کولای شي د نظر وړ کلیمه یا نوم پیدا کړي، کله کله د کلیمو سر چپه ښه غوښتل کیږي. او ماشوم باید وکړای شي هغه و مومي مثلاً غوښتل کیږي چې (سرچپه لوبیا) نو ماشوم دغه نوم سر چپه کوي او لیکي (ایبول) یا هم د کلیماتو نوم په بله ژبه غوښتل کیږي، لکه (په عربي ځمکه) چې ماشوم به (ارض) لیکي یا (په دري وری) چې ماشوم یې (ګوسفند) لیکي. په ساده شکل معما داسې مطرح کیږي:

۱ - د افغانستان یو ختیځ ولایت.

ماشوم چې وګورې په جدول کې (۷) خانې تشې دي، نو د افغانستان د ختيځو ولايتونو ، نومونه له ځان سره يادوي او ګوري چې کوم يو يې (۷) توري لري او په جدول کې مناسب ځای موندلای شي نو په دې توګه به د (ننګرهار) نوم پيدا کړای شي.

د متقاطع کلماتو د جدولونو حل د ماشومانو په ځېر کتيا او فکري وده کې مرسته کوي. ماشومان کولای شي له ګنو کلماتو سره بلد شي او ډېر نومونه زده کړي. په دې يوه شي چې کليمات څه ډول له حرفونو څخه جوړيږي. د داسې جدولونو د حل کولو لپاره هڅه کول، د ماشوم معلومات زياتوي. ځکه د هرې کليمې په باره کې بايد آفاقي پوهه ولري. د (ننګرهار) پورتنۍ بېلګه که وګورو وينو چې ماشوم د همدې نامه په پيدا کولو کې څو خبرې زده کوي. لومړی بايد د افغانستان نقشه وګوري، بيا ختيځ لوری وپېژني، بيا ځان خبر کړي چې په ختيځ لوري کې کوم ولايتونه شامل دي، څه ډول نومونه لري، او دا نومونه له څو تورو څخه جوړ شوي دي. په دې توګه وينو چې که ماشوم ټول جدول حل کوي، د څومره زياتو کليماتو په هکله معلومات تر لاسه کولای شي.

ځينې ساده او علمي تجربې:

هر ماشوم له خپل چاپېريال او د ليدوړ طبيعت څخه زده کړه کوي. کله چې ماشوم د خپلو شاوخوا شيزونو (اشياوو) په هکله فکر کوي، نو هيله لري د هر شيز په هکله خپل معلومات بشپړ کړي، که د ماشوم په لاس کې ډېره وي او هغه له لاسه وغورځوي، نو پوښتنه ورته پيدا کيږي چې ولې ډبره

د ځمکې خواته لوېږي او که څوک همدومره ورته ووايي چې ځمکه د جذب قوه لري نو ده برې د لويدلو په دليل پوهيداى شي.

د طبيعت، فزيکي پېښو او يو شمېر علمي تجربو په اړه د ماشوم ذهن خورا احساس وي او هر څه چې په ماشو متوب کې زده کړي د ژوند تر پايه يې په ياد وي. کله داسې هم پېښيږي چې ماشوم له ډېرې ساده علمي تجربې څخه يو څه پر مختللېو تجربو ته ورسيږي او ورو ورو لوى علمي حقايق زده کړي. د ژوند په لومړنيو کلونو کې د ماشوم فکر له ګڼو پوښتنو څخه ډک وي، مثلاً سپوږمۍ څنګه لويه اووړه کيږي؟ ستوري ولې ځمکې ته نه رالويږي، غرونه څنګه را منځ ته کيږي، وريځ څنګه جوړيږي او داسې نورې پوښتنې. د پوښتنو مطرح کول دا معنا لري چې ماشوم غواړي په ځينو طبيعي حقايقو وپوهيږي. له همدې امله بايد د ماشوم د پوهولو لپاره له هغه سره مرسته وشي چې په خپلو منځو نو کې ځينې ساده علمي تجربې عملي کړي. داسې علمي تجربې د ماشومانو لپاره هم په زړه پورې وي او هم دزده کړې وړ. خو اساسي شرط دادى، چې له هرې علمي تجربې سره دهغې د پېښيدو دلايل هم ذکر شي. او دا چې يوه پروسه څه ډول بشپړيږي او ولې سرته رسيږي بايد د ماشوم پوښتنو ته مقنع ځوابونه ورکړل شي. راځئ د همداسې علمي تجربو څو ساده بيلګې دلته راوړو:

هوا وزن لري:

ماشوم څنګه پوهولاى شو چې هوا وجود لري، که څه هم چې موږ يې نه شو ليدلاى خو هوا شته او له ماليکولو نو څخه جوړه ده، وزن او کثافت لري. خو دا چې څنګه يې ثابتو وو، يوه ساده علمي تجربه تر سره کولاى شو.

لومړي يو خط کش را اخلو او په سم نيمايي کې ورپورې يو تار تړو، او په ديواله کې يې له يوه ميخ څخه راځړوو. وروسته يې په دوو سرونو باندې دوه داسې پوقانې تړو چې په يوه اندازه هوا ورکړ شوې وي. دا خط کش به د ترازو (تلې) بڼه خپله کړي او و به گورو چې خط کش مستقيمه بڼه لري. يعنې دا چې د دواړو پوقانو وزن مساوي دي خو که له دواړو پوقانو څخه يوه يې د ستنې په مرسته سوری کړو او هواترې و باسو، سمدلاسه به گورو چې له هوا څخه ډکه پوقانه لاندې راځي او د خط کش هغه سر چې تشه پوقانه ورپورې تړلې ده پاس پاتې کیږي او دا ترې ثابتیږي چې هوا وزن لري، د دغې تجربې د لارو ښانتيا لپاره کولای شو هغه په لاندنيو دوه انځورونو کې وگورو:



(۳) شکل

بریښنا څنګه تر لاسه کیږي ؟:

په طبیعت کې ځینې داسې ځیزونه شته چې که له خپل مخالف ځیز سره وسولول شي بریښنا بودوي. که دوه ځیزونه سره وسولیږي، د حرکت او تصادم له امله د دواړو اجسامو الکترونونه برقي کیږي .د دې تجربې تر سره کولو لپاره کولای شي له یوه قلم او د خپل سر له ویښتو څخه کار واخلي، قلم د خپل سر په ویښتو د یوې دقیقې لپاره وموښئ او بیا یې د میز په سر پرتو کوچنیو ټوټه شویو کاغذنو ته ورنژدې کړئ په حیرانتیا سره به وګورئ چې ستاسو قلم دغه کوچني کاغذونه راپورته کوي او په خپله بدني یې نښلوي، دا په حقیقت کې د قلم برقي کیدل دي او همدا د بریښنا انرژی ده چې کوچني کاغذونه راجذبوي. دا تجربه په شکل کې وګورئ:



شکل (۱)

د څیزونو (اجسامو) وزن په اوبو کې کمیږي:

هر جسم چې په آزاده هوا کې وزن کړئ، بو تاکلی وزن لري. خو څرنگه چې د اوبو کثافت نظر آزادې هوا ته ډېر دي په اوبو کې د هماغه څیز یا جسم وزن لږوي. دا تجربه کولای شئ د یوه لرگي یوه سطل اوبو او دوه یو کیلو یي ډیرو په وسیله ترسره کړئ. لومړی د یو لرگی یا خط کش په دواړو سرونو پورې یو، یو کیلویي وزن وتړئ. که د لرگي یا خط کش په سم نیمایي کې له ترلي تار څخه یې رازوړند کړئ، خط کش به مستقیم ودریږي خو په دوهم حالت کې یوه وزنه (۱-کیلویي) د اوبو په سطل کې ډوبه کړئ، و به گورئ چې هغه بل یو کیلویي د ځمکې خواته راتیتیږي له دې څخه ښکاري چې نظر هوا ته په اوبو کې وزن کمیږي.



شکل (۲)

نتیجه (پایله) او وړاندیزونه:

د ماشو متوب دوره په ژوند کې د شخصیت جوړونې بنسټیزه دوره ده. پیدا گو ژیستا نو او اروا پوهانو په دغې دوره کې گڼ داسې اصول، اولارې چارې په گوته کړي دي چې د هغو په مرسته د یوه عالي او سالم شخصیت جوړولو لپاره لاره هوارېږي، چې کنې روزنیزې بوختیاوې په دغولارو چارو کې شاملې دي.

د تاریخ پوهانو په نظر بشریت د پیدا یښت او ودې په لومړنیو پړاونو کې اساطیر او افسانې له ځانه سره درلودې. ما نیا دا چې بشریت په خپل ماشومتوب کې له کیسو او اساطیرو سره مینه درلوده. ځینې په دې گروهه دي چې په پخوا زمانو کې (زرگونه کاله پخوا) اساطیر او افسانې له دین، پوهې، تاریخ او فلسفې سره گډې وې او له دې هر څه څخه دا څرگندیږي چې افسانې او کیسې (میتولوژي) د انسان په تاریخي وده کې څومره اهمیت لري. له همدې ځایه ده چې کیسې، نورې ادبي بوختیاوې لکه شعرونه او ترانې متلونه، اړونه، طنز او ټوکې د ماشومانو په وده او شخصیت جوړونه کې څومره اغیزې لري. ماشومان په هر بوختیا کې د خپل شخصیت د بشپړولو لپاره هڅې کوي او له رواني پلوه پر مختگ ته مخیږي، ، تجربه حاصلوي او په راتلونکي ژوند کې ور څخه د ټولنې فعاله او متجرب شخصیت جوړیږي. نو د کیسو، ټرانو، لوبو او فولکلوري ارزښتونو په نظر کې نیول ،د ماشومانو د کورنیو، مربیانو (روزونکو) او ښوونکو لپاره خورا مهم او د پام وړدي. نو د همدې اړتیا له مخې ښایي دوړاندیزونو په توگه دلته دا یادونې ذکر کړو او د افغانستان د ښېرازه راتلونکي او د دغه

هیواد د ماشومانو د روښانه سبا او ښې روزنې لپاره باید، د ښوونځیو او زده کړو تر څنګ یو شمېر مرستیالې چارې هم عملي کړای شي:

۱- د ماشومانو لپاره د کیسو، افسانو او مصور و داستانونو د چاپ او خپراوي لپاره دې لاره هواره شي. همدارازد ترانو او شعرونو مجموعې دې چاپ شي.

۲- د ماشومانو د سالمو لوبو او بوختیاوو پارکونه او لوبځایونه جوړ کړای شي، چې ماشومان هلته په سالمو او روزنیزو لوبو بوخت وي.

۳- د ماشومانو د ذهني ودې او روزنې لپاره باید د ذهني مسابقو ځانګړي پروګرامونه جوړ شي او په هغو کې د معماګانو، علمي پوښتنو او تجربو په طرحه کولو سره، د ماشومانو په ښوونه او روزنه کې عملي ګامونه اوچت شي.

٤- د ماشومانو لپاره د تفریحي پروګرامونو او کنسرتونو جوړول، کولای شي د کوچنیانو په رواني آرامي کې مرسته وکړي.

۵- د ماشوم د ادبیاتو لپاره دې جلا انستیتوتونه، او علمي ځانګې جوړې شي چې وکړای شي د هغوی لپاره د آثار و په راټولو او خپرولو کې مرسته وکړي.

د اړونې (چیستانونو) ځوابونه:

۱- بوټ
۲- شکوڼ
۳- سترګه
٤- انار
۵- تلک
٦- پوزه
۷- سنځله
۸- غلبیل
۹- سپین ږیرې
۱۰- قلم
۱۱- میخ تبیله
۱۲- سترګې
۱۳- د آسمان ستورې
١٤- ترازو
۱۵- ګونګټ
۱٦- ژرنده
۱۷- د نداسه
۱۸- ګل او شبنم
۱۹ چلم
۲۰- غابنونه
۲۱- دڅاه ډولچه
۲۲- د جنازې لمونځ
۲۳- هګۍ
۲٤- جوارو وږې
۲۵- کال، میاشت او اونۍ
۲٦- سیورې
۲۷- ستن او تار
۲۸- چلو صاف
۲۹- خوله، غابنونه او ژبه
۳۰- کټ
۳۱- شکوڼ

PROPERTY OF ACKU 10684

سرچينې او اخځونه:

۱- پښتني فولکلور، د ځوليکوالو ګډ اثر، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳٦۵ چاپ.

۲- پښتو قصې. صديق الله (ريښتين) او غلام رحمن جرار، پښتو ټولنه، کابل ۱۳۳۱ لمريز کال چاپ

۳- پښتو متلونه، د محمد دين ژواک په اهتمام، پښتو ټولنه، کابل ۱۳٤٤ لمريز کال چاپ.

٤- هيله مجله، دوهم کال، درييمه ګڼه، پېښور.

۵- پټه خزانه، محمد هوتک، د پوهنې وزارت، کابل، ۱۳۳۹ کال چاپ.

٦- روانشناسي کودک، د ځوليکوالو ګډ اثر، ايران (تهران، ۱۳۵٦ لمريز کال چاپ.

۷- د کمکيانو انيس، د ۱۳۵۵ کال کليکسيون.

۸- د ليکوال راډيويي آرشيف.

د اریک د ګرځنده کتابتونونو د اداري خپاره شوي کتابونه

١- د افغانستان عمومي جغرافيه
٢- جغرافیای عمومی افغانستان
٣- د افغانستان تاریخي ودانۍ
٤- بناهای تاریخی افغانستان
٥- د افغانستان محلي خواړه
٦- ورزشهای محلی افغانستان
٧- سپینه کوتره
٨- کمان طلایی
٩- زده کړو چې ورزده کړو!
١٠- بیا موزیم تا بیاموزانیم!
١١- په افغانستان کې د چاپېریال ساتنه
١٢- حفاظت محیط زیست در افغانستان
١٣- په افغانستان کې د بوزغلیو او باغونو جوړونه او روزنه
١٤- تربیه و تهیه بزرق و باغها در افغانستان
١٥- د تمدن سوغات
١٦- ارمغان تمدن
١٧- زلزله در افغانستان
١٨- په افغانستان کې زلزلې
١٩- معیوبین و جامعه
٢٠- معیوبین او ټولنه
٢١- د افغانستان لنډکی تاریخ
٢٢- تاریخ فشرده افغانستان
٢٣- د چرګانو ساتنه او پالنه
٢٤- مرغداری
٢٥- دنیای کودک
٢٦- د ماشوم نړۍ
٢٧- نگاهی بر اوضاع اقتصادی افغانستان
٢٨- د افغانستان اقتصادي حالت ته يوه کتنه
٢٩- د شاتو مچيو روزنه
٣٠- زنبور داری
٣١- د افغانستان مشاهیر
٣٢- مشاهیر افغانستان
٣٣- د افغانستان کلک پوستي میوې
٣٤- میوه های سخت پوست افغانستان
٣٥- جغرافیاي ولایات افغانستان
٣٦- د افغانستان د ولایتونو جغرافیه
٣٧- تکنالوژی بایوگاز
٣٨- د بایوګاز تکنالوژي
٣٩- پرخوری یا خود خوري
٤٠- ډېر خوراکي
٤١- بازی های عامیانه اطفال
٤٢- د ماشومانو ولسي لوبې
٤٣- ٤٤- لنډۍ ها
٤٥- رهنمای تشخیص وتداوی امراض چشم، گوش، گلو وبینی
٤٦- د سترګو، غوږ، ستوني او پزې ناروغیو د تشخیص او درملنې لارښود.
٤٧- سرگرمی با تجربه های علمی
٤٨- په عملي تجربو سره وخت تیرول
٤٩- په افغانستان کې کانې زېرمې
٥٠- ذخایر معدنی افغانستان
٥١- اساسات ماهی پروری
٥٢- د کبانو د روزلو لارښونې
٥٣- اوبه د ژوند سرچینه
٥٤- آب سرچشمه حیات
٥٥- تدبیر منزل
٥٦- د کور سمبالښت
٥٧- سبزی ها
٥٨- سابه
٥٩- د افغانستان مشاهیر (دویم ټوک)
٦٠- مشاهیر افغانستان (جلد دوم)
٦١- توصیه های مفید برای انکشاف باغداری در افغانستان
٦٢- په افغانستان کې د باغونو د پرمختګ په هکله ګټوري لارښوني
٦٣- شاهراه های افغانستان
٦٤- د افغانستان لوي لارې
٦٥- ورزش
٦٦- ورزش (پښتو)
٦٧- تاریخ مختصر وسایل اطلاعات جمعی...
٦٨- په افغانستان کې د ډله ایزو اړیکو وسایلو...
٦٩- سیمای محیط زیست افغانستان
٧٠- د افغانستان د چاپېریال بڼه
٧١- اقتصاد
٧٢- اقتصاد (پښتو)
٧٣- تخنیک ابتدایی رادیو
٧٤- د راډیو لومړنی تخنیک
٧٥- د افغانستان مشاهیر (دریم ټوک)
٧٦- مشاهیر افغانستان (جلد سوم)
٧٧- دانستنی های مالداری و وترنری
٧٨- د وترنرۍ او مالدارۍ په هکله لارښوونې
٧٩- صنایع دستی افغانستان
٨٠- د افغانستان لاسي صنایع
٨١- هرات در دوره تیموری ها
٨٢- هرات د تیموریانو په دوره کې
٨٣- نباتات صنعتی
٨٤- صنعتي بوټي
٨٥- جهان نما
٨٦- نړۍ ښود
٨٧- گلدسته اطفال
٨٨- د ماشومانو گل غونچه
٨٩- آب های تحت الارضی و معدنی افغانستان
٩٠- د افغانستان ترځمکې لاندې او کانې اوبه
٩١- روغه ټولنه
٩٢- جامعه صحتمند
٩٣- شهر کابل در طی قرون
٩٤- کابل د پېړیو په اوږدو کې
٩٥- اطلس ولایات افغانستان
٩٦- د افغانستان د ولایتونو اطلس
٩٧- تجارت در افغانستان
٩٨- په افغانستان کې سوداګري
٩٩- سیری در امواج موسیقی
١٠٠- د موسیقۍ په څپو کې ...
١٠١- کمپیوتر (پښتو کتاب)
١٠٢- کمپیوتر (ترجمه دری)
١٠٣- باستانشناسی در افغانستان
١٠٤- لرغونپېژندنه په افغانستان کې
١٠٥- ادب پوهنه
١٠٦- ادب شناسی
١٠٧- اساسات تولید نباتات زراعتی در افغانستان
١٠٨- په افغانستان کې د کرنیزو نباتاتو د تولید ...
١٠٩- افسانه ها و سرگرمی ها برای اطفال

عبدالغفور "لیوال" د مولوی علی محمد خان حسین خیل زوی، په ۱۳۵۲ لمریز کال په کابل کې زیږیدلی دی.

زده کړې:

لومړۍ- منځنۍ-اوثانوي د کابل په اعتبارخان لیسه کې

لوړې زده کړې:

د کابل پوهنتون دژبو او ادبیاتو د پوهنځی، د پښتو څانګه.

دندې:

د کابل پوهنتون د فرهنګی شورا مرستیال، د هنداره خپرونی خبریال، د کابل راډیو تلویزیون د هنر او ادبیاتو د اداری لیکوال.

د افغانستان د مرستو د مرکز (CCA) کار کوونکی، په افغانستان کې د جګړې او سولې په هکله د رپوټ ورکولو د نړیوال انستیتوت

مسوول، په کابل کې د آزادی-راډیو د پښتو سرویس کتونکی او خبریال.

آثار:

۱- مخه ښه او دوه منظومې، ۱۳۷۶ لمریز کال، چاپ.

۲- ژړا، اور، مینه (د شعرونو مجموعه) ، ۱۳۷۷ لمریز کال، چاپ.

۳- هوسی.(منظومه)، ۱۳۷۸ لمریز کال ،چاپ.

۴- ارشاک او اوشاس (منظومه)، ۱۳۸۰ لمریز کال، چاپ.

۵- د نیلوفرو کیسې (راټولونه) ۱۳۸۱ لمریز کال، چاپ.

۶- د وریښمو تول (د پښتو شعر د اوسمهالي بهیر کره کتنه)، ۱۳۸۱ لمریز کال، چاپ.

ناچاپ آثار:

۱- د ژبښوونې آرونه (د ژبې د زده کړې اروا پوهنه)

۲- د تراوښځې (له اسد آسمایي سره ګډه اثر)

۳- د علمی مقالو دوه مجموعې

۴- د شعرونو دوه مجموعې

د اریک ګرځنده کتابتون
څواکمن
د اکبر د اطلاعاتی او نشراتی منابعو مرکز

د اریک د ګرځنده کتابتونونو د خپرونو لړۍ
پرله پسې نومره ۱۱۰